# ... او گولۍ وچلیدې

ننگیال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ... او ګولۍ وچلېدې

PROPERTY OF ACKU 5657

ننګيال

(c) ketabton.com: The Digital Library

... اوگولی وچلیدی


لیکوال    شهرت ننگیال

خپرونکی    فرهنگ جهاد

شمیر    ۱۰۰۰

نیټه    ۱۳۷۱ هـ ش حمل

مهتمم    پیر نور علی شاه


ACKU

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء

خدای بخښلی علاقدار عبدالکبیرخان ته چی دخپل اسلامی بصیرت او ملی درایت له مخی یی دغه قیام دقوام په لوررهبری کړ او دخپل ولس دیوالی او جهادی عظمت په لارکی یی دسیاسی گوندیوله سیاسی اغراضو او عمالو سره قهرمانانه مبارزه وکړه .

په گور یی نور شه

ننگیال

# ... او گولی وچلیدې

ننگیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

په هیواد دکمونستي مزدور رژیم پرضد پاڅونونه په بیلابیلو سیمو کي بیلابیلي بني لري که څه هم په هره سیمه کي دقیام بنسټیزمحرك او چورلیځ عقیده او د ملحد او ګوډاګي رژیم پرخلاف دجهاد دفرضیت اصل تشکیلوي خو ددغو پاڅوبونوعیت ، پیلامه ، دوام او مشخصات له ځینو داسي ځانګړتیاووڅخه برخمن دي چي په بیلا بیلو ګتهـ - ګوریو کي ویشلي ښکاري .

دملحد او مزدور رژیم پر ضد چي موږ دلته دګوم پاڅون خبري کوو هغه دیو لړ داسي ځانګړنو لرونکي دي چي دهیواد په نورو سیموکي یي ساري نه لیدل کیږي.

موږ دلته دیو داسي پاڅو ن خبري کوو چي ولس دیوه بریالي تاکتیك له مخي ددښمن په خپلو وسلو دیوه ملي قیام او یوه داسي قیام له لاري چي دسیاسي ګوندونو او تنظیمونو له هر ډول اغیز او نفوذ څخه لوړ ؤ، کابل ته ډیر نژدي دیوه ستر او ولسي خوځښت بهیر توپاني کړ .

که څوك په بیطرفانه توګه دغه قیام او دهغي تاریخي پس منظرته یو ځغلنده نظرواچوي نو داستاد رباني داخبره به له یوي مخي ورسره تائید کړي چي:«ولسونه له سیاستمدارانو ډیر هوښیار او دتاوجنو حالاتو په وړاندي خورا قاطع او ځیرك دي».

موږ نه غواړو ددغه قیام په مشخصاتو اوږدي خبري وکړو خو په لنډه توګه ځینو ټکوته اشاره کوو او هغه داچي دغه قیام له پیله دچریکي جګړي په بڼه نه ؤ راولاړشوي بلکي له هماغه لومړي ورځي یي دیوه ولسي خوځښت او ملي قیام په بڼه دټول ولس دملاتړ له مخي دیوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړي جبهه يي جګړي اوعمومي پاڅون بنه لرله ، ترڅو چي دمجاهدينو ترتسلط لاندي سيمو حدودهم معلوم وو- بله داچي په دغه قيام کي دهيڅ يوه سياسي جريان دخالت نه ليدل کيده بلکي ديوه خود- جوشه حرکت په توګه دسيمي دقومي مشرانو ترقيادت لاندي هغه ته زمينه برابره شوه په لاړواچول شو ، اوج ته ورسيد او دوام يي وموند- له همدي ځايه وه چي دقيام اداره دولسي قيادت په واک کي وه او يوه داسي متحده اداره يي رامنځ ته کړي وه چي په باورسره ويلي شو چي دحکومتونو په نسبت په حالاتو ډيره حاکمه او يوه مثالي امنيت يي ټينګ کړي وو .

خو کله هم چي دپيښور دګوندو نو سيوري په سيمه وغوړځيده او دسياسي اقتدار لوبي پيل شوي نو ددغه پاڅون اصيل اهداف ، لاسته- راوړني ، پروګرامونه او اميدونه هم ورسره تاله ترغه شول او يو پاڅيدلي مقاوم ، متحد او يوه موټي قوم په ګوندونواو ګونديو وويشل شو.

ښکاره خبره ده چي دغه ليکنه دارقامو او موادو له مخي ددغه قيام بشپړتاريخ او پيښليک نشي ګڼل کيدي او نه هم دولس دجهادي قهرمانيو، حماسو او قربانيو انځورګري کولي شي بلکي يواځي ددغه قيام په رابطه پرحقايقو او واقعيتونو ولاړديوه شاعرانه او پرهر ژلي احساس يوتت تصوير او نيمګړي محصول دي-دومره چي ليکوال خپل تأثرات په ادبي رنګ کي غوټه کړيدي . داهم بايد ووايو چي دغه ليکنه دقلم مجلي په بيلابيلو ګڼو کي تر ځانګړو عنوانو لاندي خپره شويده او اوس همغه په «قلم» کي خپورشوي متن بيله دي چي دوخت دبدلون او نور و تغيراتو له مخي څه لاسوهنه پکي وشي کټ- مټ خپريږي- ځکه زه غواړم داليکنه په يوه معينه زماني مقطع کي زما دجذباتواو انګيرنود محصول په توګه لاس نه خوړلي پاتي شي .

مينه او درنښت
ننګيال



# ... اوګولي وچليدي !!!

د افغانستان دجهاد تاريخ که له يوي خوا غملړلی تاريخ دی او وير لړلی خوله بلي خوا وياړلی تاريخ دی او سرلوړی . د روسي وحشي ښکيلاک او د دوی د بريځوپه وړاندي د افغانستان د مسلمان او اتل اولس پاڅون يو حيرانوونکی پاڅون دی او هيښ کوونکی . د باطل د يوه وسله وال ځواکمن او په ځان مغرور وحشي ښکيلاک په مخ کي د تش لاسو خو د حق په مينه مستو مؤمنانو راولاړيدنه او ودريدنه او بيا په دی وحشي ځواک د هغه بريالي کيدنه د ټولي دنيا د تعجب او حيرانتيا ورړده .

ربښتيا هم دهيواد په هره برخه کي ددي پاڅيدنو پيل اوابتدا حالبه ده ، د ايمان او ارادي په پخه بنا ولاړه ده او د حق د نه فنا کيدونکي نور په رڼا کي پرمختللي او په دی وسيله زموږ محلي پاڅونونه ملي او هيوادوال شوي او د باطل په مقابل کي يې يو ټينګ صف او " بنيان مرصوص " جوړ کړی دی .

بشپړي جبهه يې جګړې اوعمومي پاڅون بڼه لرله ، ترڅو چي دمجاهدينو ترتسلط لاندي سيمو حدودهم معلوم وو- بله داچي په دغه قيام کي دهيڅ يوه سياسي جريان دخالت نه ليدل کيده بلکي ديوه خود- جوشه حرکت په توګه دسيمي دقومي مشرانو ترقيادت لاندي هغه ته زمينه برابره شوه په لارواچول شو ، اوج ته ورسيد او دوام يې وموند- له همدي ځايه وه چي دقيام اداره دولسي قيادت په واک کي وه او يوه داسي متحده اداره يې رامنځ ته کړي وه چي په باورسره ويلي شو چي دحکومتونو په نسبت په حالاتو ډيره حاکمه او يوه مثالي امنيت يې ټينګ کړي وو .

خو کله هم چي دپيښور دګوندو نو سيوري په سيمه وغوړځيده او دسياسي اقتدار لوبي پيل شوي نو ددغه پاڅون اصيل اهداف ، لاسته- راوړني ، پروګرامونه او اميدونه هم ورسره تاله ترغه شول او يو پاڅيدلي مقاوم ، متحد او يوه موټي قوم په ګوندونواو ګونديو وويشل شو. ښکاره خبره ده چي دغه ليکنه دارقامو او موادو له مخي ددغه قيام بشپړتاريخ او پيښليک نشي ګڼل کيدي او نه هم دولس دجهادي قهرمانيو، حماسو او قربانيو انځورګري کولي شي بلکي يواځي ددغه قيام په رابطه پرحقايقو او واقعيتونو ولاړديوه شاعرانه او پرهر ژلي احساس يوتت تصوير او نيمګړي محصول دي-دومره چي ليکوال خپل تأثرات په ادبي رنګ کي غوټه کړيدي . داهم بايد وواېو چي دغه ليکنه دقلم مجلي په بيلابيلو ګڼو کي تر ځانګړو عنوانو لاندي خپره شويده او اوس همغه په «قلم» کي خپورشوي متن بيله دي چي دوخت دبدلون او نور و تغيراتو له مخي څه لاسوهنه پکي وشي کټ- مټ خپريږي- ځکه زه غواړم دااليکنه په يوه معينه زماني مقطع کي زما دجذباتواو انګيرنود محصول په توګه لاس نه خوړلي پاتي شي .

مينه او درنښت
ننګيال



# ... اوکولی وچلیدي !!!

د افغانستان دجهاد تاريخ که له يوې خوا غملړلی تاريخ دی او وير لړلی خو له بلې خوا وياړلی تاريخ دی او سرلوړی . د روسي وحشي ښکېلاک او د دوی د بريځو په وړاندې د افغانستان د مسلمان او اتل اولس پاڅون يو حيرانوونکی پاڅون دی او هيښ کوونکی . د باطل د يوه وسله وال ځواکمن او په ځان مغرور وحشي ښکېلاک په مخه کې د تش لاسو خو د حق په مينه مستو مؤمنانو راولاړيدنه او ودريدنه او بيا په دې وحشي ځواک د هغه بريالي کيدنه د ټولې دنيا د تعجب او حيرانتيا وړ ده .

رښتيا هم دهيواد په هره برخه کې ددې پاڅيدنو پيل او ابتدا حالبه ده ، د ايمان او ارادې په پخه بنا ولاړه ده او د حق د نه فنا کيدونکي نور په رڼا کې پر مختللې او په دې وسيله زموږ محلي پاڅونونه ملي او دهيواد وال شوي او د باطل په مقابل کې يې يو ټينګ صف او " بنيان مرصوص " جوړ کړی دی .

د قلم مجله به هڅه کوي چې د افغانستان د جهاد، قیام او انقلاب بېلابېل اړخونه، بېلابېلې سیمې او بېلابېلې څنډې او ګوښې څېړي او د دریو لوستونکو له پاره یې روښانه کړي.

دادی په دې ګڼه کې هم د هیواد په یوه څنډه کې د اسلامي پاڅون او اسلامي اوښتون د شروع او پیل یو رښتینی او واقعي تصویر وړاندې کړی او په همدې سیمه کې به قیام د قوام او پراختیا په لوړ څېړي چې پر له پسې به څېړي. لیکوال په خپل پیاوړي قلم او خوږه ادبي ژبه د تاریخ خونړی کړی او بڅرونکي کړی چې کله-کله لوستونکي ته سودا وروړاره کړي چې ګنی ده به واقعیتونه افسانوی کړی وي خو داسې نه ده هرڅه واقعي دي فقط د لیکوال ژبه یې ادبي او جذابه ده او محتوی یې د واقعیتونو او پېښو شوو پېښو انځوردی.

موږ یې تاسو درانه لوستونکي لوستلو ته رابولو او ګران لیکوال یې بشپړولو او قدم په قدم په وړینمنه ادبي لاره باندې وړاندې تللو ته!

په مینه

"اداره"



د ګرمۍ پیل و، خو د لمر شغلې د سرې په تندې داسې تېزې لګیدې لکه تیرې ستنې، له دې تودوخې لـه ځمکې تپونه ختل، د آسمان مخ سپیرو او خړو ګردونو پوښلی و. د درې په منځ کې سیند مرام روان و، د ګنګ چنارونه د شمال له خپوښو داندېښنو په تال یوه او بله خوا زنګېدل، د پاخته سوې کوکې له بل هر وخت نه زیاتې سوځنده او ویرمنې شوې وې، چوغکـــو به داسې شور جوړ کړی و لکه چې د سیمې د لسـ کوچنو ځوانانو او مشرانو په نیونه تری تم کېدو او شکنجو د ماتم ساندې غبروي.

بزګران په مات نزه په پټیو او کروندو کې په کار لګیا وو، د خپلې خونبې د بېګار له لاسه مجبور وو چې د دوو دریو ورځو کار په یوه ورځ کې سرته ورسوي، د غنمو به له بلې خوا په هفته کې یو دوه ځله د جبري مارشونو ګډون هغوی له کار او مزدورۍ

دقلم مجله به هڅه کوي چې دافغانستان دجهاد ، قیام او انقلاب
بېلابېل اړخونه ، بېلا بېلې سیمې او بېلا بېلې څنډې او گوښې ګوټې
او د دړنو لوستونکو له پاره یې روښانه کړي .

دا دی په دې گڼه کې هم د هیواد په یوه څنډه کې د اسلامي
پاڅون او اسلامي اوښتون د شروع او پیل یو رښتینی او
واقعي تصویر وړاندې کوي او په همدې سیمه کې به قیام د قوام او
پراختیا په لوړ ځېږي چې پر له پسې به خپرېږي لیکوال په خپل پیاوړي
قلم او خوږه ادبي ژبه د تاریخ خوږن کړی او برخوونکی کړی چې
کله کله لوستونکي ته سودا وروواړه کړي چې گنی ده به واقعیتونه
افسانوی کړی وي خو داسې نه ده هر څه واقعي دي فقط دلیکوال
ژبه یې ادبي او جذابه ده او محتوی یې د واقعیتونو
او پېښو شوو پېښو انځوردی .

موږ یې تاسو دړانه لوستونکي لوستلوته رابولو
او ګران لیکوال یې بشپړ ولو او قدم په قدم په وړینېمینه
ادبي لاره باندې وړاندې تللوته !

په مینه

" اداره "



د گرمۍ پیل و، خو د لمر شغلې د سرې په تندې د اسې تیزې
لگېدې لکه تیرې ستنې ، له ډېرې تود وخې له ځمکې تپونه ختل ، د
آسمان مخ سپین او خړو کړ دونو پوښلی و، د درې په منځ کې سیند
مرام روان و ، د گڼ چنارونه د شمال له څپو سره دانډېنبو په تال
یوه او بله خوا زنګېدل ، د پاختې سوې کوکې له بل هرو ځت نه زیاتې
سوځنده او وېرمنې شوې وې ، چو غکــــــــــوبه د اسې شورجوړه
کړی و لکه چې د سیمې د لس کونو څوانانو او مشرانو په نیونه
ترې تم کیدو او شکنجو د ماتم ساندې غږوې .

بزګران په مات زړه په پټیو او کروندو کې په کار لګیا وو ،
د خپلې خونبې د بیگار له لاسه مجبور وو چې د دوو دریو ورځو
کار په یوه ورځ کې سرته ورسوي ، د غسې به له بلې خوا په هفته کې
یو دوه ځله د جبري مارشونو ګډون هغوی له کار او مزدورۍ

ایستل د ګردې ورځې سختۍ او مزدورۍ هغوی دومره نه کړول لکه چې په
مارش‌کېتر اولسوالۍ او ... پورې تګ او د تشو چیغو بدرګې .

د کال له پیله لا د بزګرانو کار او دهقانۍ ته دومره د ده‌نه‌لګید
للمي حو یې له سره کرلې نه وو ، د بښتي او د غونډیو لمنې چې پخوا به لمه
غنمو پوښلې وې سپیرې او بې کبنته پاته وې .

زده‌کوونکي به له ښوونځي نه د رخصتۍ په وخت په لارو غلي
او آرام روان وو ، پخوانۍ مستۍ ساتېرۍ او شوخۍ ګردې ترې پاتې
وې ، د هر یوه سر به د ولیو په منځ کې د ځمکې لوټه داسې ټیټ و لکه
چې خپل قدمونه شمېري او یا د لارې کاڼي او خټې ؛ کوچنو ته
به چې ورسیدل په ترهیدلې بڼه او ناڅاپه یې سره به یې دغه خبرې
راغبرګې کړې . زمون د حساب معلم یې هم ونیو ، پلانی خو یې
پرون بیولی ؤ ، د بر کلي ملایې هم نیولی ، د پلانی کور یې بېګا
تلاشي کړی هغه .. پلانی هم ورک دی . . . . .

دغه ورځ خبرې او اندیښنې د ټولو په فکرونو او خولو پورې
کلکې نښتې وې . د کلیو د جوماتونو د طالبانو کډې له یوې خوا
بار شوې وې ، ګڼ جوماتونه له ملایانو تش وو او له یو نیم جومات
نه به د اذان غږ تر غوږ کیده .

د ولسوالۍ بازار هم سوړ ؤ ، پخوانۍ بیروبار ، د دکانو او
سماوارونو جم او جوش هیڅ نه و پاته ، ځوتنه په ښکاره بوځای



نه شوی راټولیدی ، ځکه خو نه د دکانونو ترمخ او نه په سماوارونو کې
خه ګڼه ګونه لیده کیده .

د پنجشنبې ورځې هم چې سیمې ته د مسافرو ماموریتو کار-
کوونو او زده کړه والو د تګ د تلوسو او ولولو ورځ وه هغه پخوانۍ بڼه
او رونق نه درلود - د کوټه سنګي د اډې بیا د سرویس تر دری ساعته
سفره پورې یوه مطلق سکوت او اضطراب حکم چلاوه ، چې د لارې
په اوږدو کې به د پرله پسې تلاشیو توقف د دغه اضطراب او سکوت سره
یو نامعلوم وحشت هم غبرګ کړ .

په سیمه کې لکه د توپان ترمخ یو مهیب سکوت او چوپتیا خپره
وه . پخوا به چې بزګرانو د شپې له خوا د څورلسمی سپوږ[illegible] ته
لو او د هقانۍ نورې چارې پرمخ بیولې اوس سره له ما ښامه له خپلو
کورونو نه نه شوی وتلی ، د ولسوالۍ د کوڅه د بو خلقیانو د بې جلبه
لښکر یو د سورلۍ موټر به د ګزمې په نامه لکه وږي لیوان بوه او بله خوا
ګرځاستل او د شپې هم کلکې پیرې دریدې .

د خلقیانو له خوا دا وندو ورې غږ یدې چې له پاکستان او ایران
نه داړه مار او غله راغلي ستاسي پر کورونو داړې او چاپې اچوي ځکه به
د شپې د خپل کلي او محلې کلکه پیره کوئ . او د اولسوالۍ موظفین
به په ګزمه ګرځي که څه هم خلک پوهیدل چې د شپې له خوا د تالاشۍ په
نامه د خلکو په کورونو داړه او چاپه څوک غورځوی خو بیا هم

ایستل دګردي ورځې سختۍ او مزدورۍ (هغوی) دومره نه کړول لکه چې په
مارش کې تر اولسوالۍ او ... پورې تګ او د تشو چیغو بدرګې .

د کال له پیله لا د بزګرانو کار او دهقانانو ته دومره دوه نه لګید للمي حو پې له سره کرلي نه وو ، دښتې او د غونډیو لمنې چې پخوا به للمه غنمو پوښلې وې سپیرې او بې کبنته پاته وې .

زده کوونکي به له ښوونځي نه د رخصتۍ په وخت په لاره غلي او آرام روان وو ، پخوانۍ منډې ساتیرې او شوخۍ ګردې ترې پاتې وې ، د هر یوه سر به دولیو په منځ کې د ځمکې لوټه داسې ټیټ وُ لکه چې خپل قدمونه شمیري او یا د لارې کاڼي او خځلي ؛ کوم وخت به چې ورسیدل په ترهیدلې بڼه او نامرئي ویرې سره به یې د غه خبرې را غبرګې کړې . زموږ د حساب معلم یې هم وینو ، پلانی خو یې بیرون بیولی و ، د برکي ملایي هم بیولی ، د پلاني کور یې بیګا تلاشي کړی هغه .. پلانی هم ورک دی .....

د غه ورځنیو او اندیښنو د ټولو په فکرونو او خولو پورې کلکې نښتې وې . د کلیو د جوماتونو د طالبانو کوټې له یوې خوا بار شوې وې ، ګڼ جوماتونه له ملایانو تش وو او له یو نیم جومات نه به د اذان غږ تر غوږ و کیده .

د ولسوالۍ بازار هم سوړ و ، پخوانی بیروبار ، د دکانونو او سماوارونو جم او جوش هیڅ نه و پاته ، څو تنه په ښکاره یو ځای



نه شوی راټولیدی ، ځکه خو نه د دکانونو ترمخ او نه په سماوارونو کې څه ګڼه ګوڼه لیده کیده .

د پنجشنبې ورځې هم چې سیمې ته د مسافرو ماموریني کار-کوانو او زده کړه والو د تګ د تلوسو او ولولو ورځ وه هغه پخوانۍ بڼه او رونق نه درلود - د کوټه سنګي د اډې بیا د سرویس تر دری ساعته سفره پورې یوه مطلق سکوت او اضطراب حکم چلاوه ، چې د لارې په اوږدو کې به د پرله پسې تلاشیو توقف د دغه اضطراب او سکوت سره یو نامعلوم وحشت هم غبرګ کړ .

په سیمه کې لکه د توپان ترمخ یو مهیب سکوت او چوپتیا خپره وه . پخوا به چې بزګرانو د شپې له خوا د څورلسمې سپوږمۍ اته لو او دهقانانو نورې چارې پرمخ بیولې اوس سره له ماښامه له خپلو کورونو نه نه شوی وتلی ، د ولسوالۍ د کوڅه د بوخلقیانو د بې جلبه لښکریو د سورلۍ موټر به د ګزمې په نامه لکه وږي لیوان یوه او بله خوا ګرځاسته او د شپې هم کلکې پیرې دریدې .

د خلقیانو له خوا دا وندوري غږیدې چې له پاکستان او ایران نه داره مار او غله راغلي ستاسې په کورونو دارې او چاپې اچوي ځکه به د شپې د خپل کلي او محلې کلکه پیره کوئ . او د اولسوالۍ موظفین به په ګزمه ګرځي که څه هم خلک پوهیدل چې د شپې له خوا د تالاشۍ په نامه د خلکو په کورونو داړه او چاپه څوك غورځوي خو بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی مجبور وو.

* * *

د شوروي راسې اولسوالۍ ته د نوي حکومتي کسانو تګ راتګ زيات شوی و، له کابل نه به د لا د لا جيپان راتلل او بېرته به تلل. دا او اضطراب، اميدونه، او دردونه اندېښنې او ناکرارۍ خپل اوج ته رسېدلي وې. له چاسره د خلق او پرچم د وحشي دارو ماړانو د تاراکونو وېره وه، له چاسره د يوه اسلامي پاڅون د قوام اميدونه، له چاسره د دغه پاڅون د پېلامې او جريان په هکله اندېښنې او له څېنو سره د دغه لاري د ستونزو او ربړو ناکرارې. دغه اضطراب ورځ تر ورځې پياوړی کېده، د خلقيانو له خوا د دغه آوازه هر ځای خپره شوه چې هزارګان غواړي د وردګو په سيمه او کورونو حملې وکړي، ځکه او کورونه يې لاندې کړي او دغه حکومتي ځمکې او شته ترې واخلي. دغه آوازه ورو ورو د خلقيانو له خوا په مارشونو او مېټنګونو کې هم غبرګېده او په جدي بڼه يې په غونډو کې مطرح کوله.

خو خلک پوهېدل، هغوی باوري وو چې هزارګان د دوی ديني او ملي ورونه دي او پېړۍ پېړۍ يې د اسلامي اخوت په رڼا کې د وروروېښه ګاونډ يتوب مثالي ژوند تېر کړی دی.

د سيمې سپين روږي او مشران هم يو ځای او بل ځای غونډې غونډېدل کله پټ او کله ښکاره په يوه او بل کلي کې يوه او بله ورځ کې سر را ټولېدل کله کله به له ولسوال او نورو حکومتي کارداړانو سره په ساعتونو



ساعتونو په خبرو لګيا وو. له څو شپو ورځو راهيسې د دغه ورلېسه ني کتنې روانې وې. د نژدې ورځو له لېدنو کتنو هغوی راضي معلومېدل له دردمنو او سپينو ږيرو يې د يو د ول د ننېز داد او خوښۍ ښکارېده داسې ښکارېدل لکه چې لويه سوبه يې په برخه شوې وي.

داسې لکه چې د غوښې له ناوړين او د کمونيزم له وحشت نه يې ژغورونده لوری موندلی وي او همدا وينې د استبداد او کفري نظام راپرځولی وي.

خو بيا هم څه بنسې نا آرامي او اندېښنه به کله ناکله د هغوی له هرکاتونو کې ترا او خبرو څرګندېده. د همدغه حالاتو په جريان کې په يوه ورځ کې له کابل نه شل ديرش عسکري لارۍ ترل شوی تر پالونه ولسوالۍ ته راورسېدې چه په مخ کې يې څو جيپ موټرې او دوه ټانکونه روان وو.

حکومت يوځل بيا سپين روږي راغونډ کړل، داځل هرڅه په واګه شول هغه داچې له حکومت سره د سيمې مشرانو دا منلې وه چې له دوی نه به ترېګ او جنګي مهمات اخلي او د هزاره ګانو مقابله به کوي. حکومت دا هم زيانه کړې وه چې د هزاره ګانو سر زمونږ او مال او شته يې ستاسو. د سپين روږو او حکومت پر دغه موافقه ډېر خلک خواشيني وو، مختلفو اندېښنو او چرتونو په سر اخيستی وو، ډېرو د کړکې په سترګه ورته کتل او داي دګر د قام سپکه کړله او اولس ته تاريخي ننګ او عار.

خلقيان ډېر خوشاله وو، هغوی په خپل نيرنګ او استعماری

هغوی مجبور وو.

* * *

دغو ورځو راسې اولسوالۍ ته د نوي حکومتي کسانو تګ راتګ زیات شوی ؤ ، له کابل نه به ډله ډله جیپیان راتلل او بیرته به تلل . دا او اضطراب ، امیدونه ، او دردونه ، اندیښنې او ناکرارۍ خپل اوج ته رسیدلي وې . له چاسره د خلق او پرچم د وحشي دارومارانو د - تاراکونو ویره او له چاسره د یوه اسلامي پاڅون د قوام امیدونه . له چاسره د دغه پاڅون د پیلامي او جریان په هکله اندیښنې او له ځینو سره د دغه لارې دستو تزوا و رهو ناکرارۍ . دغه ـــــ اضطراب ورځ تر ورځې پیاوړی کیده ، د خلقیانو له خوا د غه آوازه هرځای خپره شوه چې هزارګان غواړي د وردګو په سیمه او کورونو حملې وکړي ، ځمکه او کورونه یې لاندې کړي او دغه حکودي ځمکې اوشته ترې واخلي . دغه آوازه ورو ورو د خلقیانو له خوا په مارشونو او میتنګونو کې هم غبرګیده او په جدي بڼه یې په غونډو کې مطرح کوله .

حزخلک پوهیدل ، هغوی باوري وو چې هزارګان د دوی دیني او ملي ورونه دي او پیړۍ پیړۍ یې د اسلامي اخوت په رڼا کې د وروري او پېنه ګاوندیتوب مثالي ژوند تیرکړي دی -

د سیمې سپین ږیري او مشران هم یو ځای او بل ځای غونډ غونډ کیدل کله پټ او کله ښکاره په یوه او بل کلي کې یوه او بله دره کې سر را تولیدل کله کله به له ولسوال او نورو حکومتي کارداړانو سره په ساعتونو



ساعتونو په خبرو لګیا وو . له څو شپو ورځو راهیسې دغه ورلیدنې کتنې رواني وې . د نږدې ورځو له لیدنو کتنو هغوی راضي معلومیدل له دردمنو او سپین ږیرو څیرو یې د یو دول د ښیږ داد او خوښۍ رڼا ځلیده داسې ښکاریدل لکه چې لویه سوبه یې په برخه شوې وي .

داسې لکه چې د غوټۍ له ناوړین او د کمونیزم له وحشت نه یې ژغورونکی لوری موندلی وي او همدا ونې د غمستبد او کفري نظام راپرځولی وي.

خو بیا هم څه نسبي نا آرامي او اندیښنه په کله ناکله د هغوی له حرکاتو ګر نو او خبرو څرګندیده . د همدغه حالاتو په جریان کې په یوه ورځ کې له کابل نه شل دیرش عسکري لارۍ ترل شوی تر پالونه ولسوالۍ ته را ورسیدې چه په مخ کې یې څو جیپ موټر او دوه ټانکونه روان وو .

حکومت یو ځل بیا سپین ږیري راغونډ کړل ، دا ځل هر څه په واګه شول هغه داچې له حکومت سره د سیمې مشرانو دا منلې وه چې له دوی نه به توپک او جنګي مهمات اخلي او د هزاره ګانو مقابله به کوي . حکومت دا هم زیاته کړې وه چې د هزاره ګانو سر زمون او مال او شته یې ستاسو د سپین ږیرو او حکومت پر دغه موافقه ډیر خلک خواشیني وو ، مختلفو اندیښنو او چرتونو په سر اخیستې وو ، ډیرو د کرکې په سترګه ورته کتل او دا یې د ګرد قام سپکه ګڼله او اولس ته تاریخي ننګ او عار .

خلقیان ډیر خوشاله وو ، هغوی په خپل نیرنګ او استعماري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ دغه دوازه قوموته نسبتي تصور کړی وو ، هغوی داسې دغه زړه جربه چې بيل يې کړه ايل يې کړه يو ځل بيا عملي اوله بشپړې برې سره پلې ليده .

د ټوپکو ويش ته دوه ورځې پاته وې چې ځينې مشران په خلکو وکړځيدل اود ټوپکو اخيستو ته يې تشويق او وهڅول . اولس حيران وو ، له يوې خوا يې د کفر او کمونيزم غيراسلامي کړنې او اقدامات ليدل او بلې خوا ته يې له همدغه کفري حکومت نه د وسلې په اخيستو کې د خپلو مشرانو ټينګار . خو د خپلو مشرانو له خبرو يې سر نه شو ې غړولي - ځينې چې لږ څه ځيرک وو هغوی د خپلو مشرانو له حرکاتو ، خبرو او رمزيه کړنو د هر څه پته لګولې وه هغوی هم نوره وکړی تشويقول او د ټاکلې ورځې راتلو ته يې د انتظار ګړۍ شميرلې. په ټاکلې ورځ يو ځل بيا د ولسوالۍ بازار او دکانونه يو عظيم جم او جوش په سر واخيستل د خلکو ګڼه ګوڼه دومره زياته وه چې هيڅ تصور يې نه کيده. په همغه ورځ د ولسوالۍ بازار يو ځل بيا د يوه عظيم خوځښت د بيلابې شاهد و ، داسې خوځښت چې د آزادۍ رڼا او د حق د برې د زيري ترانې يې غږولې، سرې فکر کاوه چې څنګه تول خوځيږي . په ډيره بيړه وار په وار د درو اوکليو اوسيدونکو ټوپک واخيستل د سترګو په رپ کې يې پالګ کړل او کمربندونه يې وتړل . پلان دومره دقيق طرح شوی و چې د عمل تر شيبې پورې د خلق



او پرچم ګوډاګيانو هيڅ دول شک او ماقي تصور نه و کړی ، بره په علاقدارۍ کې م د همدغه ور پروګرام له مخې د ټوپکو ويش جريان درلود .

هغوچې وسلې اخيستي وې دير نا کراره وو ، د انتظار ګړۍ ديرې ترخې او سختې پرې تيريدې ، زړونه يې په سينوکې داسې درزيدل لکه چې بهر ته راوځي ، هغوی نور د انتظار ترخه اوسختې نشوی زغملی ، او هر څه ديوه انفلاق پولې ته رسيدلي وو ، د خلکو احساسات د انتظار په ديوالونو وروختل ، جذبات طغياني شول او ولولې توپاني .

د ټوپکو ويش لا پای ته نه و رسيدلی چې خلکو اسلامي بيرغونه راواېستل او د الله اکبر او يا چاريار په نارو سره يې د ولسوالۍ شاوخوا سنګرونه ونيول ، او پر ولسوالۍ يې بريد پيل کړ .

سخت جنګ ونښت ، خلقيانو چې له يوې غيرمترقبه او نا ټکل شوې پيښې سره ځانونه مخامخ وليدل په وارخطايي او ليونتوب يې د ولسوالۍ او هوټل د ننه هر لور ته د درنو ماشينګنو ډزې پيل کړې ، شاوخوا نژدې کورونو او کليو ته يې د ټانکونو او درنو ماشيندارو خولې سمې کړې او بې دريغه ګولۍ يې پرې وچلولې خو په دې يې هيڅ ذره درد غلی نشو .

له بهرنه د مجاهدينو د ټوپکو **بارونه چليدل.**

ځوتنو لږ ( سوګند ) وکړه چې د ولسوالۍ شمال ته د ماشيندار و پر موضع ورو خيژی له " يا الله " سره يې پرې ورحمله کړل ديوګيلن پټرولوله او رسره پرې ور وختل او موضع يې لاندې کړه .

لومړۍ دغه دوازه قوموته نسبتي تصور کړی وو ، هغوی داستما دغه زړه حربه چې بېل يې کړه ایل يې کړه یو څل بیا عملی اوله بشپړ برۍ سره پلې لیده .

د توپکو ویش ته دوه ورځې پاته وې چې ځینې مشران په خلکو وکړځېدل او د توپکو اخیستو ته یې تشویق او وهڅول . اولس حیران وو ، له یوې خوا یې د کفر او کمونیزم غیراسلامي کړنې او اقدامات لیدل او بلې خوا ته یې له همدغه کفری حکومت نه د وسلې په اخیستو کې د خپلو مشرانو ټینګار . خو د خپلو مشرانو له خبرو یې سر نه شو ې غړولی . ځینې چې لږ څه ځیرک وو هغوی د خپلو مشرانو له حرکاتو ، خبرو او رمزیه کړنو د هرڅه پته لګولې وه هغوی هم نورو وګړی تشویقول او د تاکلې ورځې راتلو ته یې د انتظار ګړۍ شمیرلې .

په ټاکلې ورځ یوځل بیا د ولسوالۍ بازار او دکانونه یو عظیم جماوجوش په سر واخیستل د خلکو ګڼه ګونه دومره زیاته وه چې هیڅ تصور یې نه کیده .

په همغه ورځ د ولسوالۍ بازار یوځل بیا دیوه عظیم خوځښت د ببلامې شاهد و ، داسې خوځښت چې د آزادۍ رڼا او د حق د برۍ د زېرۍ ترانې یې غږولې ، سرې فکر کاوه چې څنګه تول خوځېږي .

په ډېره بېړه وار په وار د درو اوکلیو اوسیدونکو ټوپک واخیستل د سترګو په رپ کې یې پاڅ کړل او کمربند ونه یې وتړل .

پلان دومره دقیق طرح شوی و چې د عمل تر شیبې پورې د خلق



او پرچم ګوډاګیانو هیڅ ډول شک او ساق تصور نه و کړی ، بره په علاقدارۍ کې م د همدغه و پر پروګرام له مخې د توپکو ویش جریان درلود .

هغوچې وسلې اخیستې وې دیر ناکراره وو ، د انتظار ګړۍ ډیرې ترخې او سختې پرې تیریدې ، زړونه یې په سینو کې داسې درزیدل لکه چې بهر ته راوځي ، هغوی نور د انتظار ترخه او سختې نشوی زغملی ، او هرڅه د یوه انفلاق پولې ته رسیدلې وو ، د خلکو احساسات د انتظار په دیوالونو وروختل ، جذبات طغیانې شول او ولولې توپانې .

د توپکو ویش لا پای ته نه و رسیدلی چې خلکو اسلامي بیرغونه راواېستل او د الله اکبر او یا چاریار په نارو سره یې د ولسوالۍ شاوخوا سنګرونه ونیول ، او پر ولسوالۍ یې برید پیل کړ .

سخت جنګ ونښت ، خلقیانو چې له یوې غیرمترقبه او ناڅاپي پیښې سره مخانو نه مخامخ ولیدل په وارخطایي او لیونتوب یې د ولسوالۍ او هوټل د ننه هرلورته د درنو ماشینګنو ډزې پیل کړې ، شاوخوا نژدې کوروںو او کلیو ته یې د ټانکونو او درنو ماشیندارو خولې سمې کړې او بې دریغه ګولۍ یې پرې وچلولې خو په دې یې هیڅ درزه درد غلی نشو .

له بهرنه د مجاهدینو د توپکو باړونه چلیدل .

څوتنو لږ ( سوګند ) وکړه چې د ولسوالۍ شمال ته د ماشیندار و پر موضع ورو خیژي له " یا الله " سره یې پرې ورهله کړل دیوګیلن پترولوله او ور سره یې پرې وروختل او موضع یې لاندې کړه .

ولسوال له غوسې او واره لکه مار تاو راتاو کېده، دوه ځله یې ځپلو
عسکرو د کلاشنکوف حجوري نښې کړې، دا ځل هغه بیا له کنځلو او بدو
ردو سره پر عسکرو د کلاشنکوف خوله راوګرځوله، خو بېرته یې ژر لاس
ونیو، خپلې پولیسي شونډې یې په غاښونو چیچلې، یوه او بله خوا
یې بې هدفه ګرځندې او لیونۍ قدمونه اخیستل.

یو ځل بیا یې په شاوخوا کورونو د دفاع امر وکړ،
خونړۍ یې بیا هم کار ونه موند. دوربین یې وغوښت چې وګوري
د باندې څه حال دی او ځوځ مجاهدین له کومو خواوو څه ډول وړاندې
کوي، د دوربین سترګې یې ریږدیدلو لاسونو په خپلو سرو خونکارو
سترګو سمې کړې د دوربین آینه د لمر د وروستیو وړانګو له ټکر سره وځلیده
له دغه ځلیدو سره د یو مجاهد ټوپک ګولۍ سیخه د ده د دوربین پر
سترګې راسمه شوه او له مغزو یې ووته. له یوې سختې چیغې سره په
ځمکه راولوید او له خولغتو وهلو سره یې ساه ووته.

مجاهدین وار په وار د ولسوالۍ دیوالونو ته نژدې کېدل. د
ولسوال له مرګ سره د کمونستانو مقاومت نور هم کمزوری شو، لږ شیبه وروسته
د کمونستانو د تسلیم تسلیم چیغې پورته شوې، مجاهدین پر ولسوالۍ ورننوتل او ځینې
د یوې تیاره شپې په توره تیاره کې د کمونیزم د وحشتونو بې جلبه واکمنۍ ترڅادرد
لاندې شوه، او د سهار د لمر ځرک له زرینو وړانګو سره پر ولسوالۍ د اسلام
پرتمین بیرغ رپیدو وکړ.



# ... او بانګونه وغوړېدل!

د تیاره پر دوهمه ورځ (د ۱۳۵۸ لمریز د جوزا ــ ۱۱ ــ) د دفاع
وزارت د سیاسي تشکیلاتو د دفتر له خوا د شپې پر یوولسو بجو امین ته د
ببینۍ په هکله چې پلان د هغه تر نظر لاندې جوړ شوی و، تیلفوني خبر
ورکړ شو. د سیاسي تشکیلاتو دفتر په ډېره وارخطایۍ د عاجل جریان
په نوم د امین د استوګنځي د تلفون نومره ووهله. له هغه خوا د محافظینو
د کار د له خوا ورته بیا هم له امین سره د تلفوني تماس د نه ټینګېدو
ویل شول. خو د دفتر موظف اصرار او ټینګار دومره زیات شو چې ګارد
مجبور شو، امین د نشو او تماشو له خیالونو او خوبونو راپورته کاندي.

امین په خپل دود د خپلې استبدادي کرکټر پر بنسټ وحشیانه او
مخمورانه بڼه د تلفون غوږۍ راسمه کړه په پاسته کوچ سپه ووه
وار ونه وت. پښې یې پر مخامخ پروت میز کېښودې؛ خوله یې سره یې په ځینو
کې داسې ژور بدلون راغی چې د یوه بې ساري وحشت او ویرې ګډ

ولسوال له غوسې او واره. لکه مار تاو تاو کیده. دوه ځله یې ځپلو عسکرو د کلاشنکوف حجوری تشې کړی، دا ځل هغه بیا له کنځلو او بدو ردو سره پر عسکرو د کلاشنکوف خوله راوګرځوله، خو بیرته یې ژر لاس ونیو، خپلې پولیسو شوندې یې په غاښونو چیچلې، یوه او بله خوا یې بې هدفه ګرځندې او لیونۍ قدمونه اخیستل.

یو ځل بیا یې په شا وخوا کوروتو د دفو امروکي خوزره یې بیا هم کرار ونه موند. دوربین یې وغوښت چې وګوري د باندې څه حال دی او څومره مجاهدین له کوم خوا او څه ډول دزې کوي، د دوربین سترګۍ یې ریږدیدلو لاسونو په خپلو سوو خونکارو سترګو سمې کړې د دوربین آینه د لمر دوروستیو وړانګو له تکوسو وړ قیده له دغه ځرکیدو سره د یو مجاهد د ټوپک ګولۍ سیخه ددوربین پر سترګه راسمه شوه او له مغزویې ووته. له یوې سختې ګذارې سره په ځمکه را ولوید او له ځولغتو هلو سره یې ساه ووته.

مجاهدین وار په وار د ولسوالۍ دیوالونو ته نژدې کیدل د ولسوال له مرګ سره د کمونستانو مقاومت نور هم کمزوری شو او شیبه وروسته دکمونستانو د تسلیم تسلیم چیغې پورته شوې، مجاهدین پر ولسوالۍ ورننوتل او د غسې د یوې تیاره شپې په تورو زړو د کمونیزم د وحشتونو بې جلبه واکمنۍ ترڅادود لاندې شوه، او د سهار د لمر ځرک له زرینو وړانګو سره پر ولسوالۍ د اسلام پرتمین بیرغ رپیده وو.



# ... او تانکونه وغورېدل!

د قیام پر دوهمه ورځ (د ۱۳۵۸ لمریز د جوزا - ۱۲ -) د دفاع وزارت د سیاسي تشکیلاتو د دفتر له خوا د شپې پر یوولسو بجو امین ته د پیښې په هکله چې پلان د هغه تر نظر لاندې جوړ شوی و، تیلفوني خبر ورکړ شو. د سیاسي تشکیلاتو دفتر په ډیره وارخطایۍ د عاجل جریان په نوم د امین د استوګنځي د تلفون نومره ووهله - له هغه خوا د محافظینو د ګارد له خوا ورته بیا هم له امین سره د تلفوني تماس د نه ټینګیدو ویل شول - خو د دفتر د موظف اصرار او ټینګار د ومره زیات شو چې ګارد مجبور شو، امین د نشو او تماشو له خیالونو او خوبونو را بهر کاندي.

امین په خپل د د غږ د خپلې استبدادي کرکې پریوه وحشیانه او مخمورانه بڼه د تلفون غوږی را سمه کړه په پاسته کوچ سپه دده وار بنت - پښې یې پر مخامخ پروت میز کیښودې؛ خوله یې سره یې په ځیره کې داسې زوړ بدلون راغی چې دیوه بې ساري وحشت او ویرې ګډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امتزاج یې تمثیلاوه - غزولې پښې یې راټولې او په کوچ کې راسم شو - امین هیڅکله هلته داسې حالت سره نه ؤ مخامخ شوی د هغه دوحشیانه طبیعت د خونړی تور ژبغړانده لمبو د هغه پرشندی دوېرې او شکست خولې راماتې کړی وی .

د امین غږ نور هم ډډ او غوسه ناک شو - هغه یې کوله چې د تهر دشدت له امله داسې وښيي چې نور او ریدلو ته تیار ندی او نه غواړی نور د غه بول د ماتې او ویرې سپیرې خبرې واورې . ژر یې د مقابل لوری خبره ورپرې کړه او له دی خبری سره یې غوږه په دېر زور سره پر تلفون ورو غورځوله چې سبا به د بهرنیو چارو په وزارت کې د پېښو په هکله خبری کوو او لازم تصمیم به نیول کیږي :

او چې مخ یې راوګرځاوه نو د مخ پریړی غوښې یې داسې تکې سرې اوښتې وی لکه د آهنګر په کوره کې سره شوی اوسپنه د مرګه رګونه یې پړسیدلی وو - هغه نور د دغې شپې د نشو او تماشو نه ؤ - د عیش او نوش کوم محفل چې هغه ئې راغوښتی ؤ ناتمام پاتې شو - بیا مستو ګډو نکو ، نڅا کوونکو د وضعې پر دغه ناڅاپي بدلون یو بل ته پېکه او خپ خپ وکتل - او یو په بل پسې له مجلس نه ووتل . . . که څه هم په حقیقت هیڅوک پوه نشول ، خو دومره یې ضرور وانګیرله چې څه ناوړه پېښه رامنځ ته شوی . . .

امین د اندېښنو او ځرتونو په سمندر کې د څپو په کومې کې دوب دوب



کیده ، خپلې ملی ځلی او مځی په سیند لاهو ورته بر بیښیدی - یو وار بې خونړی جذبات راولړزیدل او داسې یې وپتېیله چې له یوی مخې به بمباری وکړی ، یو مخېزه ورتی ته به لاس اچوی - خوك دي چې د هغه د روسی ټانکو نو الوتکو او . . . مقابله وکړی . . . .

اندیښنو او وسوسو خوب ته نه پرېښوده - د میز پر سر یې د ودکا له بوتل نه یو ډك ګیلاس په سر واړاوه ، بیا یې هم د وحشیانه طبیعت د خونړی او بې جلبه واکمنو طغیان تکرار نشو - له مغزو یې د اندیښنو او وسوسو زولنې بیرته نه شوی ، بل ګیلاس ته یې لاس کړ سستونی - ستغ په کټ وغزید او سترګې یې پټی کړی .

* * * * *

سبا رسمی امین د بهرنیو چارو وزارت د ستوری په مانۍ کې حاضر ؤ ، د تالار له یو سر نه تر بله یې قدم واهه ، موظفین او محافظین د هغه نه غیر مترقبه وضعې او حرکاتو ته هک حیران وو ، او د یوې دیرې ناوړې پېښې اټکل یې کاوه .

امین په ډیره بې صبرۍ د انتظار ګړۍ شمیرلې - ښی لاس یې د پتلون په جیب کې اچولی ؤ او په پوره زړه تنګۍ یې په کین لاس ترل شوی ګړۍ ته کتل - د رنګ ساعت ته ( ۸ ) تنه عسکری صاحبمنصبان او خلورتنه ملکی خلقیان تالار ته رانتوتل - امین د

امتزاج یې تمثیلاوه ـ غزولي ښني یې راتولې او په کوچ کې راسم شو ـ امین هیڅکله هم له داسې حالت سره نه ؤ مخامخ شوی د هغه دوحشیانه طبیعت دخونړی تنور ژبغړانده لمبو د هغه پرشندی دوېری او شکست خولې راماتې کړی وی .

د امین غږ نور هم ډېر او غوسه ناک شو ـ هغه یې کوله چې د تهر دشدت له امله داسې وښیي چې نور او پېدلو ته تیار ندی او نه غواړی نور د غه دول د ماتې او وېرې سپیرې خبرې واري . ژر یې دمقابل لوری خبرو ورپرې کړه او له دی خبری سره یې غوږیه په ډېر زور سره پر تلفون ورو غورځوله چې سبا به د بهرنیو چارو په وزارت کې د پېښو په هکله خبری کوو او لازم تصمیم به نیول کیږي :

او چې مخ یې راوګرځاوه نو دغځ پریړی غوښې یې داسې تکې سرې اوښتې وې لکه د آهنګر په کوره کې سره شوی اوسپنه د مرۍ رګونه یې پړسیدلی وو ـ هغه نور د دغې شپې د نشو او تماشو نه ؤ ـ د عیش او نوش کوم محفل چې هغه نن راغوښتی ؤ نا تمام پاتې شو ـ بد مستو ګډونکو نکو او نڅاګرو د وضعي پر دغه ناڅاپي بدلون یوبل ته پیکه او خپ خپ وکتل ـ او یو په بل پسې له مجلس نه ووتل ... که څه هم په حقیقت میڅوک پوه نشول ، خو دومره یې ضرور وانګیرله چې څه ناوړه پېښه رامنځ ته شوی ...

امین د اندیښنو او چرتونو په سمندر کې د څپو په کومی کې ډوب ډوب



کیده ، خپلې هلې ځلې او هڅې په سنیند لاهو ورته بریښیدی ـ یو وار یې خونړی جذبات راولړزیدل او داسې به یې وپتپیله چې له یوی مخې به بمباری وکړی ، یو مخینه وژني ته به لاس اچوی ـ څوک دي چې د هغه د روسي ټانکونو، الوتکو او ... مقابله وکړی ....

اندیښنو او وسوسو خوب ته نه پرېښوده ـ د میز پر سر یې د ودکا له بوتل نه یو ډک ګیلاس په سر واړاوه ، بیا یې هم د وحشیانه طبیعت خونړی او بې جلبه واکمنه طغیان تکرار نشو ـ له مغزو یې د اندیښنو او وسوسو زولنې بیرته نه شوی ، بل ګیلاس ته یې لاس کړ ، ستونی ستغ په کټ وغزید او سترګې یې پټې کړی .

* * * * *

سبا رښتې امین د بهرنیو چارو وزارت د ستوری په ماڼۍ کې حاضر ؤ ، د تالار له یو سر نه تر بله یې قدم واهه ، مؤظفین او محافظین د مغه ننۍ غیر مترقبه وضعي او حرکاتو ته هک حیران وو ، او دیوی ویری ناوړی پیښی اټکل یې کاوه .

امین په ډېره بې صبری د انتظار ګړی شمیرلې ـ ښی لاس یې د پتلون په جیب کې اچولی ؤ او په پوره زړه تنګی یې په کین لاس ترل شوی ګړی ته کتل ـ د رنګ ساعت ته (۸) تنه عسکری صاحبمنصبان او ځلور تنه ملکي خلقیان تالار ته راننوتل ـ امین د

پخوا پر خلاف هغوی ته کومه خاصه پاملرنه ونه کړه - هغوی هم خپل
ځانونه داسې عيار کړي وو چې د عسکري انضباط ترڅنګ يوڅو د خپګان
او تأثر تري خوتکيده - ځير وي ديوې غير منتظره خواشيني څرګندونه
کوله، چې حق په جانب بڼه يې نيولې وه - خو لدې سره يې داسې ښکارو له
چې د پيښې او ستونزې د مقابلې او حل لپاره د جدي او بريالي اقدام لپاره
بشپړ تيارى لري، او د خپل دننيز وار او عار د پټولو په لټه کې وو.

له معمولي او عادي پوښتنې وروسته د ستر ميز شاوخوا
کيناستل - د مرکزي قواو قومندان محمد دوست چې د پلان مهمه
مهره وه د امين په عادي اشاره د راپور د لاندې کولو لپاره وښوريده - د
ډيرې بيړې او وارخطايي په حالت کې يې کاغذونه راويستل، د کاغذونو
د ترتيبولو پر وخت يې لاسونه لکه د مستې پاڼې رپيدل، له ډيرې
وارخطايي تر راپور پاڼې ګډې وډې شوې وې ، د شرم او
ويرې په فضا کې به يې پټ پټ او غلا غلا د امين خواته کتل - په
سالون کې چوپه چوپتيا وه - يوازې د محمد دوست په رپيدونکو لاسونو
کې د کاغذ د کړپهار آواز پورته کيده چې د پاڼو
د ترتيبولو کوښښ يې کاوه .

هغه د راپور په لوستلو پيل وکړ :

... خلکو د توپکو د ويش پر وخت د ځينو ناعاقبت انديشه
مسئولينو د عجولانه اقداماتو او د ولسوال د بې کفايتۍ له امله او هم



لدې کبله چې د پلان په ترتيب او د هيئت په دله کې ځينې اشخاص په پټه
کې له اشرارو سره مله وو پلان له ناکامۍ سره مخامخ شو - خلکو
وسلې تښتولې او نژدې يوولس زره توپک يې تر لاسه کړي دي - د
چک پر ولسوالۍ او د دايميرداد په علاقدارۍ يې بريد کړى د علاقدار
او ولسوال په ګډون زموږ زيات شمير خلقي ملګري له منځه تللي - ... مفصل
راپور لاتر اوسه موږ ته ندى رارسيدلى ...

امين ميز په سوک ووهه وي ويل : مانه وويل چې د
وسلې د ويش د هيئت په ټاکنه کې بايد ښه غور وشي .

محمد دوست : صاحب موږ څه خبر وو . د ګروال غلام-
دستګير خوشبين کاله په روسيه کې تير کړي او کانحو بي يې هلته
اخيستي . موږ ځکه پرې باور او ډاډ و وو ، خو اوس ابتدايي راپور
داسې ښيي چې د پلان په ناکامۍ او د خلکو په پاڅون او ولاړيدنه کې هغه يې
اغيزمن رول لوبولى دى، امين بيا هم پخپل سوک له ميز ته ... تير کړ
تاسو کسان داسې وښوريدل لکه چې څوک د چاله نابيره غږ
سره ويريدلي وي زياته يې کړه : نه نه، تاسې له دقت نه کار ندى
اخيستى ، سهل انګاري مو کړې انقلابي !! ديد او درک مو کمزوري
دي . مسئولو کسانو ته بايد سخته جزا ورکړه شي . حزبي انضباط
او درايت !! مو له پامه غورځولي دي ...

په اوريدونکو کې د اجرئت نه و ، چې د پيښې په اړه د-

پخوا پر خلاف هغوی ته کومه خاصه پاملرنه ونه کړه - هغوی هم خپل ځانونه داسې عیار کړی وو چې د عسکری انضباط تر څنګ یوډول خپګان او تأثر تری څرګندیده - څیر ویې دیو غیر منتظره خوابشینې څرګندونه کوله ، چې حق په جانب بنه یې نیولی وه - خو لدې سره یې داسې سنکار و له چې د پیښې او سترونزې د مقابلې او حل لپاره د جدی او بریالی اقدام لپاره بشپړ تیاری لری ، اود خپل دننیز وار او عار د پټولو په لټه کې وو.

له معمولي او عادی پوښتنې وروسته د ستر میز شاو خوا کیناستل - د مرکزی قواو قومندان محمد دوست چې د پلان مهمه مهره وه د امین په عادی اشاره د راپور واندې کولو لپاره وبوبلید - د دیری بیړی او وارخطایۍ په حالت کې یې کاغذونه راویستل ، د کاغذونو د ترتیبولو پروخت یې لاسونه لکه د مستی پانی رپیدیدل ، له دیری وارخطایی تری د راپور پانی ګډې وډې شوې وې ، د شرم او ویری په فضا کې به یې پټ پټ او غلا غلا د امین خواته کتل - په صالون کې چوپه چوپتیا وه - یواځې د محمد دوست په رپیدونکو لاسونو کې د کاغذ د کړپهار آواز پورته کیده چې د پانو د ترتیبولو کوښښ یې کاوه .

هغه د راپور په لوستلو پیل وکړ :

... خلکو د ترهکو د ویش پروخت د څینو ناعاقبت اندیشه مسئولینو د عجولانه اقداماتو او د ولسوال د بې کفایتۍ له امله او هم



لدې کبله چې د پلان په ترتیب او د هیئت په دله کې ځینې اشخاص په پټه کې له اشرارو سره مله وو پلان له ناکامۍ سره مخامخ شو - خلکو وسلې تښتولی او نژدی یوولس زره ټوپک یې تر لاسه کړی دی - د چک پر ولسوالی او د دایمیرداد په علاقداری یې برید کړی د علاقدار او ولسوال په ګډون زموږ زیات شمیر خلقی ملګری له منځه تللی - ... مفصل راپور لاتر اوسه موږ ته ندی را رسیدلی ...

امین میز په سوک ووهه ویې ویل : مانه ویلی چې د وسلې د ویش د هیئت په ټاکنه کې باید ښه غور وشي .

محمد دوست : صاحب موږ څه خبر وو . د کروال غلام دستګیر خو شپږ کاله په روسیه کې تیر کړی ارکانحرب یې هلته اخیستی . موږ څکه پری باور او داد و وو ، خو اوس ابتدایی راپور داسې ښيي چې د پلان په ناکامۍ او د خلکو په پاروته او ولاړیدنه کې هغه د اغیزمن رول لوبولی دی ، امین بیا هم پخپل سوک له میز ته ټینګ تیر کړ تاسته کسان داسې ونبوریدل لکه چې څوک د چاله نابیره غږ سره وریږدلی وی زیاته یې کړه : نه نه ، تاسی له دقت نه کار ندی اخیستی ، سهل انګاری مو کړی انقلابی !! دیداو درک مو کړی دی . مسئولو کسانو ته باید سخته جزا ورکړه شي . حزبی انضباط او درایت !! مو له پامه غورځولی دی ...

په اوریدو نکو کې د اجرئت نه و ، چې د پیښې په اړه د -

(c) ketabton.com: The Digital Library



امين د خالت ته په رمزي او كنايي بڼه اشاره وكا ، له خپرو او خوږمندو
سرو سترګو يې داسې بريښېده لكه چې د پېښې مسئوليت يې د ير درونده
والى كوي - د تللو سترګى په ميز كې ښخې وې ...

د ګواښونو ، تهديد ونو او اخطارونو په ګيڼو دار كې وروستي
پريكړه داسې وشوه چې په دوو ورځو كې دننه به د كوماندو
سرتي هوايي قوا ، زغره والي ځلورمې قوا ، بالا حصار او قرغې نه
موګد لوړ رتبه پوځي هيئت په سيمه د برېد پروګرام او نقشه
تياروي - نقشه به په ځلورم نمبر زغره واله قوا كې د موظفو روسي مشاورينو
له نظره تېروي - منظوري به يې اخلي او په عمليا تو به پيل كوي - داسې
دقيق او هراړخيز عمليات چې يو اشرار هم ترې ژوندي پاتې
نشي .

امين پريكړه پر ځل بيا د غوسې او تهديد په ډېر وحشتناك
انداز كې تكرار كړه او لدې سره د همدغه وړ جابرانه پوز په شيو لو
سره له ځايه پاڅېده ، ناست كسان لكه فنري انسانان په ډېره بيړه
پورته وغورځېدل د وتلو پر وخت يې د توقع پر خلاف په نسبتاً ورو او نرمه
لهجه زياته كړه : زه ترو كې صاحب ته ځم تاسې به په ډيره
دقيقه او مؤثره توګه خپل كار پر مخ بيايئ او ماته به مفصل معلومات
راسوئ ...

هغوي په سرو سترګو سپواځۍ دومره ورغبرګ كړه



چې ډير ښه صاحب !

* * * * *

دوه ورځې وروسته د ځمكنيو او هوايي قواو د ګډو عمليا تو
پروګرام بشپړ شو او د كابل په زړه كې د زغره والو ټانكونو يو اوږد كتار
وخوځېده ، په پاځرك يې خپل پولادي غاښونه ښخول او د سړك
زړه يې څيراوه .

هو ! دكابل د ونو ، بوټو پاڼې چې څو مره تازه ګرمۍ زمولولى
وې - له ځغرنه زيات يې د استو كنو زړونه د كمونيزم ناورين
مروړلى وو - له خپرو يې ديوه ژور خزن او اند يښنو دوك پورته
كيده ...

دښېن دروازې او اسمايي غرلمنې بيا د يوې بلې خوږې ناجعې
او ناتار شاهدي وي شاوخوا غرونو له ښاره خپله غيرتګر ستاو كړي
وه - او داسې يې په خپله غيږ كې نيولي ؤ لكه مور چې خپل اولاد له
چا دښمن او وحشي نه پټوي ، د ښېر پوړ كلا يو ځل بيا د وطن
د آزادۍ د دښمن ځپلو ته ننه ننه كيده بالا حصار بيا هم د يوه
بل نوي ناتار او ويارلي مقاومت ننداره ته سترګي په لار ؤ ، چې
چيرته بيا كوم بل نوي " كمينارى " راوپرځوي او كوم بل " شاشجاع"
د خلكو د قهر په لمبو كې ونغاړي ...

امین د خالت ته په رمزي او کنایي بڼه اشاره وکړه، له ځیرو او څوړندو سترګو یې داسې بریښېده لکه چې د سپینې مسئولیت پړې ډېر درونده والی کوي – د ستوله سترګې په میز کې ښخې وې ...

د ګواښونو، تهدیدونو او اخطارونو په ګیر و دار کې ورو ورو پریکړه داسې وشوه چې په دوو ورځو کې دننه به د کوماندو نړتی هوایي قوا، ژغروالي ځلورمې قوا، بالاحصار او قرغې نه مېوګه لوړ رتبه پوځي هیئت په سیمه د بریدیز پروګرام او نقشه تیاروي. نقشه به په ځلورم نمبر ژغروال قوا کې د موظفو روسي مشاورینو له نظره تیرېږي – منظورې به یې اخلي او په عملیاتو به پیل کوي – داسې دقیق او هراړخیز عملیات چې پر اشرارو هم تری ژوندي پاتې نشي.

امین پریکړه یو ځل بیا د غوسې او تهدید په یوه وحشتناک انداز کې تکرار کړه او لدې سره د همدغه ورځ جابرانه پسوز په منولو سره له ځایه پاڅېده، ناست کسان لکه فنري انسانان په ډیره بیړه پورته وغورځېدل. د ټولو پر وخت یې د توقع پر خلاف په نسبتاً ورو او نرمه لهجه زیاته کړه: زه تره کي صاحب ته ځم تاسې به په ډېره دقیقه او مؤثره توګه خپل کار پرمخ بیاياست او ما ته به مفصل معلومات راسوئ ...

هغوی په مرو سترګو یوا ځې دومره ورغبرګ کړه



چې ډېر ښه صاحب!

* * * * *

دوه ورځې وروسته د ځمکنیو او هوايي قواو د ګډو عملیاتو پروګرام بشپړ شو او د کابل په زړه کې د ژغروالو ټانکونو یو اوږد کتار وخوځېده، په پاڅسرک یې خپل پولادي غاښونه ښخول او د سړک زړه یې څېراوه.

هو! د کابل د ونو، بوټو پاڼې چې څو مره تازه ګرمي زمولولې وې – له هغه نه زیات یې د استوګنو زړونه د کمونیزم ناوړین مړاوي ول – له څیرو یې ډیره ژوره خزن او اند یښنو د وک پورته کېده ...

د ښیر دروازې او اسمايي غره لمنې بیا د یوې بلې خونړۍ فاجعې او ناتار شاهدي وې ... شاو خوا غرونو له ښاره خپله ټینګه غېږ راتاو کړې وه – او داسې یې په خپله غیږ کې نیولی و لکه مور چې خپل اولاد له چا دښمن او وحشي نه پټوي، د ښیر پوړ کلا یو ځل بیا د وطن د آزادۍ د دښمن ځپلو ته نینه نینه کېده بالاحصار بیا هم د یوه بل نوي ناتار او ویاړلي مقاومت ننداره ته سترګې په لار ؤ، چې چېرته بیا کوم بل نوی "کمیونارې" راو پېځوي او کوم بل "شاشجاع" د خلکو د قهر په لمبو کې ونغاړي ...

زاړه ښار بیا دخپلو تیرو ویاړونو په یاد ولو سره د یوبل «مکناتن»

د څیګر څیرولو ته ننوي « اکبران » راوراندې

کول ...

تنګیو ننوري هم خپلې زامی تینګولی چې څوک بل « برانیدن »

ترې نیم ژواندی ونه وځی ...

د زرنګار پارك غونډی بیا دهیواد د اسلامی نهضت د سرتیرو

دتکبیر ملکوتی آوازته غوږ نیولی و . - او د استعمار - کمونیزم

فساد او استبداد پرخلاف یې دمبارزی تیر پلونه دیوه نوی قیام اوخوځښت

مخی ته په خپله سینه کې راتازه کول .

کابل پوهنتون بیا د اسلامی نهضت د مبارزو یادونه راسپړل

لارو او واټونو دیوه نوی ویاړمن او بې سیاله خوځښت په مینه دهیواد

دتیرو ویاړونو او ازمینیتونو کړینې په ښنه کولی .

په همدغه ورځ یوه زړه بوږنوونکی او دوح ټاړوونکی حالت کې

دکابل له زړه نه ، د ایمان پرتکیه د پاڅیدلی ولس د انقلابی هود ، اتلو

الوحماسو او ویاړونو دتکونی لپاره دتانکونو او توپونو یو اوږد کتار

خپله لاره وهله او هلته ....



# ... او هلته چې دالله اکبر نارو
# دتیارو زړونه څیرل

د سپوږمۍ په تته رڼاکې د ستورو له ستړکو نو سره دزړوبارونو

لکه دیوه بختور زیری انګازې خپرولی . دکولیو په پلوشو کې دیوه نیکمرغه

او ژغورونده سباوون نښې ځلیدلې . او په هغه تیاره کې د مرد کیو د

رڼاکرښې د کفر او کمونیزم د تورې تروږمۍ د زړه څیرلو ته بیخي

ورته ښکاریدې .

هغه

ولسوالي فتح شوې ده ، هغه دویرې او وحشت مرکزونه

پرونۍ ویرونکی بڼه نلرې . د زندان زنځیرې ماتې شویدې او وحشتونو

PROPERTY OF ACKU 5657

زاړه ښار بیا د خپلو تیرو ویاړونو په یاد ولو سره د یوبل «مکناتن»

د خیټي څیرولو ته «اکبران» راوړاندي

کول ...

تنګیو ملوری هم خپلی زامی تمینګولی چې څوک بل «برائیدن»

تری نیم ژواندی ونه وځی ...

د زرنګار پارک عزنیدو بیا د هیواد د اسلامی نهضت د سرتیرو

د تکبیر ملکوتی آوازته غوږ نیولی و ... او د استعمار - کمونیزم

فساد او استبداد پرخلاف یې د مبارزی تیر پلونه دیوه نوی قیام او خوځښت

مخی ته په خپله سینه کې را تازه کول .

کابل پوهنتون بیا د اسلامی نهضت د مبارزو یادونه را سپړل

لارو او واټونو دیوه نوی ویارمن او بی سیاله خوځښت په مینه د هیواد

د تیرو ویاړونو او ارمینبتونو کربني په ښنه کولی .

په همدغه ورځ یوه زړه بوږ نوونکی او دوح ناپروونکی حالت کې

د کابل له زړه نه ، د ایمان پرتکیه د پاڅیدلی ولس د انقلابی هود ، اتلو

الوحماسو او ویاړونو د تکوني لپاره د تا نکونو او توپونو یو اوږد کتار

خپله لار وهله او هلته .....



# ... او هلته چې «الله اکبر» نارو د تیارو زړونه څیرل

د سپوږمۍ په تته رڼاکې د ستررو له سترګکو نو سره د زړو ویاړونو

لکه دیوه بخښتو زیری انګازې خپرولی - د کولیو په پلوشو کې دیو نیکرغه

او زغورنده سباوون نښې ځلیدلې - او په هغه تیاره کې د مړه کیو د

رڼاکرښې د کفر او کمونیزم د تورې تروږمه د زړه څیرلو ته بیخي

وروته ښکاریدې .

ولسوالي فتح شوې ده ، هغه دویري او وحشت مرکزونه هغه

پروت ویرونکي بنه نلري . د زندان زنځیري ماتې شویدي او وحشتونو

PROPERTY OF ACKU 5657

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څوړو نو خپله کډه بار کړېده .

دغه سهار مرغانو د ډېر وختي د ونو په څانګو کې د خوشالۍ د اتڼ نغمې پورته کړې وې - په ډېر سرور او وجد يې له يوه ښاخ نه بل ته ټوپ کړ - داسې شور او زوږ يې جوړ کړی و لکه چې د ټول عمر له پاره همدا نن ترانې غږوي او د زړه غوټې پرانيزي .

د دغه ګهيځ سپيده چاوده بل ډول و - دروند او هيبتناك - خوځون او او ارواپالونکی .

نن سهار د ( الله اکبر ) غږ او لړزوونکی غږ داسې خوندور لګېده لکه چې د سړي په زړه او رګونو ننوځي ، ويښ زړونه يې لا بيدارول - جذبې او ولولې يې نورې هم راپارولې او ټوندې کولې .

د دغه سهار د لمر څرك ځلنده او طلايي پلوشې له بل هر وخت نه ښايسته او رنګينې وې - د لمر څرېکې د دښمن تور زړونه څيرلي وو او د آزادۍ او برمیال مقاومت د پيل او دوام کرښې يې انځور کړې وې .

دغه سهار له بل هر سهار نه په خورا زيات توپير سره پيل شو - سترګکو يو بل ته د ويلو د پر خاطر او زړونو د پر ناويلي رازونه سپړلو ته ليکه کړي وو ؛ په شونډو او ژبو د څرګندولو د پرې نوې او مينه ناکې خبرې ګرځېدې .



سيند نن مرام يون ته کاوه څکمنو څپو څپې يې په ډېره تېزۍ او بې صبرۍ له يو بل سره تندې جنګول .

د سيند د وارو غاړو ته د ننګ د چنارونو لکه وسله وال سپاهيان د دفاع او مقابلې لپاره تيار سيخ ولاړ وو .

د برېښنا د فابريکې په نهر کې کبانو د اوبو له تل نه د نن ورځې د يادونې ننداري ته پر له پسې غوټې راوهلې .

د خلکو له څېرو يو ډول مينه ناك هيبت او صلابت ځلېده - ليرې نه د اپرون و آبله ورځ موچي همدغه وګړي ليدل او نن مو له نظره تيرول د پر زيات تغيير ترې بر ېښېده .

پرون چې ډېره بزګر پر اوږه بيل او کلنګ و او وچو شونډو او سپېره مخ يې د بدې ورځې تصوير وړاندې کاوه ، نن يې پر اوږه يوه تور بړې د ايماني پرتم او ځواک ننداره ښندله او له څېرې يې له يوه اوږده غمونکي انتظار وروسته د يوه فاتح وصال وړانګې ځلېدې .

نړه وړونکې ننداره وه - پاروونکې ننداره او مينه ماتوونکې . زړونه باغ باغ وو او بدنونه له خوښۍ او ولولو په جامو کې نه ځايېدل تا به ويل په کاشانو کې له يوې مخې ساه او روح پو کلي شوی - له هرې تيرې پړکمر - هرې څانګې او هرې پاڼې د آزادۍ او خوځښت ترانې زمزمه کېدې او چې د سيند د څپو آواز به د زړګو له غاړو

او څوونو خپله کډه بار کړېده ؟
دغه سهار مرغانو ډېر وختي د ونو په څانګو کې د خوشالۍ
د اتڼ نغمې پورته کړې وې - په ډېر سرور او وجد يې له يوه ښاخ
نه بل ته ټوپ کړ - د اسې شور او زوږ يې جوړ کړی ؤ لکه چې د ټول
عمر له پاره همدا نن ترانې غږوي او د زړه غوټې پرانيزي .
د دغه ګهيځ سپيده چاود بل ډول ؤ - درونده او هيبتناك -
خوخوږ ؤ او اروا پالونکی .
نن سهار د ( الله اکبر ) غږ او لړزوونکی غږ داسې
خوندور لګيده لکه چې د سړي په زړه او رګونو ننوځي ، ويښ
شا ناست و. له سترګو یې یو نوی او مخصوص هیبت ښکارېده او یو ډول تریخ
او پاڅوونکی کیفیت ترې ځلېده. په غونډه کې د ټولو غړو په یوه خبره اتفاق
وو او هغه د مقابلې او مقاومت خبره او تر وروستی سلګۍ پورې د جنګېدو هوډ.

دغونډې په پای کې هغه ژر ژر د ټېلفون اندول وګرځاوه او د معمول خلاف
یې په لنډو ټکو کې د مجاهدینو مرکزونو ته د تیارسئ او حرکت امر وکړ. د ټېلفون
غوږۍ یې قومندان ته ورکړه او هغه په یوه ساده عسکری انضباط او نظم خو مختصرې
جملې وویلې او د حرکت بولۍ یې وکړه.

د لږې شېبې له پاره یو معنادار سکوت حکم وچلاوه چې د شورا د رئیس دنرۍ
او ترخې موسکا یوې لنډې شیبې مات کړ.



د شورا له دفتر نه د باندې د ساتونکو په سترګو کې یو مهیب حرکت ترسترګو
کېده د شورا دفتر چې څه موده مخکې د خلقیانو د یوې جلبه واکمنۍ، لنډغرۍ او د
سیمې د مؤمنو او پتمنو استوګنو د ځورولو او ویرولو یو نکی مرکز و، داڅه وخت بله بڼه
غوره کړې وه. یوبل نظم او نظام پکښې چلېده ـ بېلې خبرې پکښې لیدل کېدې او نورې
خبرې او فیصلې پکښې اجرا کېدې.

نن دغه دفتر بیا څه بل ډول ښکارېده خو هغه ورځ نه لکه د خلقیانو د ناروا
واکمنۍ په وخت کې.

مؤظفین او محافظین ګرندی او په جدي څېره کې د دفترونو ته تلل او راتلل او
په بېړۍ سره به یو لوري ته روانېدل.

د قوماندې په رسېدو د حملې د مخنیوي او مقابلې له پاره په ټوله سیمه کې د
تیارسی غږ خپور او د غزا ډول وډنګېده د الله اکبر چیغه پورته شوه او د مجاهدینو
منظمو ګروپونو حرکت وکړ.

له پاسه یو دوه ګروپه مجاهدین راورسېدل ـ خدای خبر چې څه وخت به یې
حرکت راکړی وي او څومره لاره به یې وهلې او څومره به ستومانه وو، په مخونو یې
د لارې د دوړو او ګردونو پېکه ښېناسته وه ـ دوی به ستړي وو خو د ستومانۍ
نښې نه پکې لیدل کېدې ـ دوی یو نانا ډوله جنګ ته روان وو خو د په شاټک او ماتۍ
فکر نه و. ورسره دوی له یو ټوپک او ۲۰۰ ګولیو سره د ټانکونو، توپونو او الوتکو
مقابلې ته ورننوتي کېدل خو ویرې او اندېښنې آثار نه پکې ترسترګو کېدل.
له هغې خوا ترغاسنونو پورې ټوک وسله وال د ښمن د زغروالوتکو او ټانکونو په بهیر کې روان و.

چې کن شپ هلیکوپترونو بدرګه کاوه اولدې خوا پښتني اېپلې په نس ورېږي مجاهد په خپلو پښنو پلي یون کاوه .

له هغه لورې د ټانکونو او شوبلو درزا او غرار خوت او لدې خوا دحق دلارې بې وسلې او بې وسیلې مجاهدینو درانده ، آرام متین او پاخه قدمونه اوچتول .

په یوه لیکه د حق او باطل د لښکرو مقابله پیل شوه ـ کولې وچلېدې ټانکونو ځکه ولړزوله او الوتکو داور کولې واورولې .

سهار لمر لا خېژ نه وه وهلی او د دګو غرونو پر څوکو د لمر طلایي ورانګو لا د نور کرښې نه وې ایستلې چې د غرونو پر امتداد د سرو ګولیو پلوشې خپرې شوې او وریسې د ټانکونو سختو ډزو ځمکه ولړزوله دالوتکو مهیب کرس د دښمن د زړه دل او وارخطا موقف څرګندولې وکړه ـ لدغو لړزونکو ډزو او کړسهار سره ماشومان د خپلو پرېسترو کې راکېښنا ستل ـ د پوښتنو په ډول اندازې یو بل ته وکتل ـ زړو پوهېدل ـ په پته خوله یې یو بل ته څوڅو واره وکتل او په سترګو سترګو کې یې د پرڅه سره ووېل او دیو بل په زړه وپوهېدل ـ د سترګو دغه معصومانه جنګ یو عالم اسرار او سوالونه لرل . چې اوس به ټانکونه د هغوی پزکورونو ورخېژي داوبوس به ډزو به یې کورونه ړنګ ، الوتکې به پرې بمونه غورځوي ـ په پلار ، ورور او نورو خپلوانو به یې څه څه تېرېږي او په دوی به څه حال راځي ...

بې وسلې خلک دغرونو په لور روان شول ځکه که قوه وراندې تېره شي د هغوی د سر خطر دی .

هلته جګړه بنه تود روان ؤ ، مجاهدینو په درېو برخو کې د دښمن مقابلې ته



سنګرونه نیولي وو ـ لدې خوا به د مجاهد د ټوپک له یوه ډز سره له هغه خوا د درند و ماشینګنو او توپونو یو دوامدار باران وچلېد ـ سرې به فکر کاوه چې په دغه مسلسل شلیک چې د مجاهد د ټوپک دیوه ډز په ځواب کې د هغه پر مورچل شوی هغه څه کوې کانې به هم اوره شوې وي اوځمکه به پر بل مخ اوښتې وي ، خو چې کتل به دې بیا به له همغه مورچې د مجاهد د ټوپک ډز شو داسې رسا ډز چې که به د دوربین کې به دې وکتل نو ګولۍ به وختي د د دښمن پر بدن ښتې وه .

بنځو خپلې کانې چې د پخوانیو پاچاهانو د وخت کومه نیمه بند کړې روپۍ وه له ځینو نورو څیزونو سره یو ځای بل ځای نښخولې ـ چې یو ځای کې به یې خښتې کړې نو زړه به بیا څه ورته ووېل په هغه ځای به بې باوره شوې بل ځای ته به یې یووړې ځکه که قوه راتېره شي نو دا هیڅ به پرې نه دې نور څه کوې چې د کورونو د زېرو غورېږو په لوټولو هم دریغ نه کوي .

قوه له وړاندې تګ څخه پاته شوه خو جګړه په پوره قوت سره روانه وه په یوه برخه کې په داوار ډاګ کې مجاهدینو قوه محاصره کړې وه .

محمد نبي مجاهد به ویل : ما ته د دښمن لوېشتلو څخه د ډزو په تسلسل کې د هغوی رغېدل او له وحشت څخه ډک تېښته خوند راکوي او همېشه به یې د دښمن د لیونۍ تېښتې لذت یاداوه ، وبه یې خندل اوږې به یې پورته وغورځولې او په خندا کې په ورک غږ به یې ویل : ما ته یې د دې کولیو په باران کې د دوی دا بې ایمانه تریکې خوند راکوي .

هغه به کله ناکله د شوخۍ له مخې ویل : زه یې له تندي پرته بل ځای نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کن شپ هلیکوپترونو بدرګه کاوه او لدې خوا پښنی اېبلې په نس ورې مجاهد په خپلو پښو پلې یون کاوه.

له هغه لورې د ټانکونو او شوبلو درزا او غرار خوت او لدې خوا دحق دلارې بې وسلی او بې وسیلې مجاهدینو درانده، آرام متین او پاخه قدمونه اوچتول.

په یوه لیکه دحق او باطل د لبنکرو مقابله پیل شوه ټکولی وچلېدې ټانکونو ځکه ولړزوله او الوتکو داوړکولی واوروله.

سهار لېرلا څېره نه وه وهلی او د دکوغرونو پرڅوکو دلمر طلایي وړانګو لا د نورکرښې نه وې ایستلې چې دغرونو پرامتداد دسرو ګولیو پلوشې خپرې شوې او وریسې د ټانکونو سختو ډزو ځمکه ولړزوله دالوتکو مهیب کرس دد ښمن دنرېدلی او وارخطا موقف څرګند وي وکړه - لدغو لړزونکو ډزو او کړسهار سره ماشومان دخپلو پېښتو کې راکښېناستل - دپوښتنو په ډول اندازې یو بل ته وکتل - زړو پوهېدل - په پټه خوله یې یو بل ته څوڅو واره وکتل او په سترګو سترګو کې یې د پرڅه سره وویل او دیو بل په زړه وپوهېدل - دسترګو دغه معصومانه جنګ یو عالم اسرار او سوالونه لرل. چې اوس به ټانکونه د هغوی پزکوروونو ورخېژي داوبوس په ډزو به یې کورنړیږي، الوتکې به پرې بمونه غورځوي - په پلار، ورور او نورو خپلوانو به یې څه څه تېرېږي او په دوی به څه حال راځي. . . .

بې وسلې خلک دغرونو په لور روان شول ځکه که قوه ورانده تېره شي د هغوی د سرخطر دی.

هلته جنګ بنه تود روان ؤ، مجاهدینو په درېو برخوکې دد ښمن مقابلې ته



سنګرونه نیولی وو - لدې خوا به د مجاهد دټوپک له یوه ډز سره له هغه خوا ددرند و ماشینګنو او توپونو یو دوامدار باروچلېد - سرې به فکر کاوه چې په دغه مسلسل شلیک چې د مجاهد دټوپک دیوه ډز په ځواب کې د هغه پرمورچل شوی هغه خوځه کوې کانې به هم اوره شوی وی او ځمکه به پربل مخ اوښتې وي، خو چې کتل به دې بیا به له همغه مورچې د مجاهد دټوپک ډز شو داسې رسا ډز چې که په دوربین کې به دې وکتل نوګولی به وختی دد ښمن پر بدن مېښتی وه.

بنځو خپلې کانې چې د پخوانیو پاچاهانو دوخت کومه ښه بندکړی روپی وه له ځینو نورو ځیزونو سره یوځای بل ځای ښخولې - چې یو ځای کې به یې خښتې کړې نو زړه به بیا څه وېرته وویل په هغه ځای به بې باوره شوې بل ځای ته به یې یووړې ځکه که قوه راتېره شي نو دا هیڅ به پرې نږدې نور څه کوې چې دکورونو دزېرو غورو په لوټلو هم دریغ نکوي.

قوه له وړاندې تګ څخه پاته شوه خوجګړه په ټول قوت سره روانه وه په یوه برخه کې په اوار ډاګ کې مجاهدینو قوه محاصره کړې وه.

محمد نبي مجاهد به ویل: ما ته د دښمن له ویشتلو څخه د ډزو په تسلسل کې د هغوی رغړېدل او له وحشت څخه ډکه تېښته خوند راکوي او همېشه به یې دد ښمن د لیوني تېښتې لذت یادا وه، و به یې خندل او بیا به یې پورته وغورځولی او په خندا کې په ورک غږ به یې ویل: ما ته یې د ګولیو په باران کې ډډ ایمانه تړیکې خوند راکوي.

هغه به کله نا کله د شوخۍ له مخې ویل: زه یې له تندي پرته بل ځای ته

په نبنه کوم خودا بې غیرته چېرته په تندي لګېږي دا هر یو په شا لګېږي هر مردار عسکر یا صاحب منصب چې ګوري نو لومړی په پونده لګېدلی وي.

د هغه به همېشه خوله له خندا ډکه وه او د جنګ په سخت او تریخ ساعت کې به هم هغه یوه نیمه ټوکه ویشتله.

له ټاټک نه د یوه صاحبمنصب کېن لاس سنګاره شود ځنګ بجاهد ته یې وویل که مې سترګو کار کولی نو د ساعت عقرب مې یې په نبنه کاوه ته کوره ورته؛ د ټوپک له ډزسره د صاحبمنصب لاس او ساعت دواړه په هوا شول هغه به د ډزترمخ د عسکر، صاحبمنصب، یا ټاټک، لاری او...... یو ځانګړی ځای په نبنه کاوه په کوم ځای به چې د هغه زړه ورغی - او بیله دې یې هیڅکله پرما شد کوته نه راکاږله.

خدای خبر چې د کوم مجاهد د ټوپک مردک د جبهه خانې پرمونبړ ومنبت چې د ټانکونو له منځه یو ډز اولمبې پورته شوې.

داورلمبې دومره ژبغرانده او چاودنه داسې سخته وه چې نژدې ټانکونه او لارۍ یې همغلته پچپلو لمبو کې واخیستلې او د نورو چې وس کېده او لاره یې ایستلې شوای نو بیا یې نه سمه کتله اونه کړه.

اوچې له کابل نه د تبنتېدلو عسکرو او صاحبمنصبانو حال راورسېدنو مغوی خبره دومره لویه کړې وه چې: پدوی له ځلاوو خواوو او هوا نه څه کوي چې د ځمکې له تل نه هم ډزې او برید ونه کېدل. داسې چې هرکوم هرې ډېرې، هرې او نې او هر بوټې پرې باړونه چلول.



# ...او: په جرګو مرکو نشي کار تمام

د خلقیانو له جګړې ستومانه او نهیلي حکومت دې ته اړ شو چې د زور له لارې نه بلکې د زاریو او ننواتو له لارې ځینې اقوام و ته د هغوی سپین ږیری او مشهورې څېرې چې په کابل کې د دوی د وحشت ترچړې لاندې او سېدل د جرګې په نوم واستوي.

همداؤ چې په کابل کې یې د ورکو مشهورو څېرې او مخور داخله وزارت ته جلب کړل په لستونو کې د هغو ټولو ماموریتو نوموړه نیول شوی ؤ چې د وردګو چک ته منسوب او لاد څرخي پله د زندان مېلمانه شوي نه وو.

دغه کسان د روژې په وروستیو ورځو کې د داخله وزارت د ماموریتو د دوی خولو په سالون کې راغونډ کړی شول.

دا هغه وخت ؤ چې اسلم وطنجار مازی تش په نوم وزیر ؤ، خود دغه وزارت واک او صلاحیت ظاهراً د پولیسو لوی قوماندان انجنیر علي شاه پیمان په لاس کې ؤ.

علي شاه پیمان چې یو امیني خلقي او لکه ایني د مارغونډې ښایسته ؤ د

په نبنه کوم خوداې غیرته چېرته په تندي لګېږي‌دا هریو په شا لګېږي هرمردار عسکر یا صاحب منصب چي ګوري نو لوېږي په پونده لګېدلی وي.

د هغه به همېشه خوله له خندا ډکه وه او دجنګ په سخت او تریخ ساعت کې به هم هغه یوه نیمه ټوکه ویشتله.

له ټانک نه د یوه صاحبمنصب کېن لاس سنګاره شو دغنګ بجاهد ته یې وویل که مې سترګکي کار کولی نو د ساعت عقرب مې یې په نبنه کاوه ته کوره ورته ؛ د ټوپک له ډزسره دصاحبمنصب لاس او ساعت دواړه په هوا شول هغه به د ډز ترمخ دعسکر، صاحبمنصب، یا ټانک، لاری او...... یو ځانګړی ځای په نبنه کاوه په کوم ځای به چي دهغه زړه ورغی - او بیله دې یې هېڅکله پرماشه ګوته نه راکاږله.

خدای خبر چي دکوم بجاهد ټوپک مړک دجبهه خاني پرموټر ومبنت چي د ټانکونو له منځه یو ډز اولېبي پوره شوې.

داورلمبی دومره ژبغرانده اوچاودنه راسي ګخته وه چي نژدې ټانکونه او لاری يي همغلته پخپلو لمبو کي واخیستلی او دنورو چي وس کېده اولاره یې ایستلی شوای نو بیا یې نه سمه کتله اونه کړه.

اوچي له کابل نه د تښتېدلو عسکرو او صاحبمنصبانو حال راورسېدنو مغوی خبره دومره لویه کړې وه چي: پدوی له ځاورو خاوو او هوا نه څه کوي چي د ځمکې له تل نه هم ډزې اوبرېد ونه کېدل. داسي چي هرکم هرې ډبرې، هري ونې او هر بوټي پرې باروته چلول.



# ...او: په جرګو مرکو نشي کار تمام

د خلقیانو له جګړې ستومانه او نهیلي حکومت دې ته اړ شو چي د زور له لارې نه بلکې د زاریو او ننواتو له لارې ځیني اقوام ته د هغوی سپین‌ږیري او مشهوري خبرې چي په کابل کې د دوی د وحشت ترچرې لاندې او سېدل د جرګې په نوم واستوي.

هغه او چي په کابل کې یې د ورځکو مشهوري خبرې او مخور داخله وزارت ته جلب کړل په لستونو کې د هغو ټولو ماموریتو نوموته نیول شوی او چي د وردګو چک ته منسوب او لاد خرخي پله د زندان میلمانه شوی نه وو.

دغه کسان د روژې په وروستیو ورځو کې د داخله وزارت د ماموریتو د ووې خوړلو په سالون کې راغونډ کړی شول.

دا هغه وخت او چي اسلم وطنجار مازی تش په نوم وزیر و، خود دغه وزارت واک او صلاحیت ظاهراً د پولیسو د لوی قوماندان انجنیر علي شاه پیمان په لاس کې و.

علي شاه پیمان چي یو امیني خلقي او لکه امین د مارغوندي ښایسته و د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت په نمایندګۍ سالون ته په ډېرکرو اوفرکې راننوت، دحق په جانب اوغمناکه پوز په نیولو سره یې ددغو کسانو په وړاندې خبرې پیل کړې.

ده وویل: زه دیوه پښتون په توګه له وردګو سره ډېره زیاته مینه لرم داپه هم وویل چې وردګ دحکومت له نظره ډېر شریف خلک دی په تېره بیا پر ده ډېر ګران دی.

ده په شرافت سوګند یادکړچې هغه دردناک حالت چې د وردګو ښځو اوماشومانو ته د جګړې له امله په غرونوکې داستوګنې څخه ورپېښ شویدی په خاصه توګه د ده د زړه سوی ور دی خو په ضمن کې یې د دې خبرې یادونه هم وکړه چې حکومت هغه وسایل اوامکانات په لاس کې لري چې د وردګو تهوله سیمه ورباندې په بل ځ واړوي خوزما داحالت پدغه مهرباني اوغیرتي قام نه لورېږي نوداسې یوکار بایدوشي چې ددواړو خواو یعنې حکومت او وردګو حیثیتونه پکې وساتل شي:

بیان داهم وویل: په حکومتي دستګاه کې له وردګونه داسې کسان شته چې د وردګو په مقابل کې دسختوجګړو اوعسکري عملیاتو تجویز وړاندې کوي خوزه د یوه پښتون په توګه چې وردګ ډېر راباندې ګران دی دهغوی په مخ کې درېږم.

ده راجلب شوېو کسانوته مخ وکړ څاوه ویل وېل تاسې خپل قوم ته ورشئ ممکن هغوی له تاسو سره ښه سلوک ونکړي خو هڅه چې د رسره کوي بیاهم ستاسو قوم دی ورشئ دلاسا یې کړئ.

دپیمان په خبروکې د ځینو ماموریتونو تر پلاله لاندې یواخطاراوکوانس هم وړاندې شو او هغه داچې داماموریتونه دې یاله دوی سره وډرېږي او یا دې دخپل قوم څنګ ونیسي.

په سالون یو ویرجن سکوت حکم چلاوه دناستو کسانو له څېرو ډاړ ورو –



اندېښنو لوخړې ختلې هغوی زیاتره د پیمان خبرو ته نه بلکې خپل ژوند او سبا ته په فکر کې ؤ. داسې غمناکه چوپتیا چې سري فکر کاوه په ناستو کسانو کې دمه نه چلېږي اوهسې یې ستړګې غړېږي.

اسمعیل خان چې یو وخت ډېرمقتدر والي ؤ دغه چوپتیا ماته کړه او د نورو په نمایندګۍ یې خوخبرې وکړې ده هم دقام پدغه دردوونکې حالت اندېښنه څرګنده کړه او په ضمن کې یې دځوښتنو وردګو خلقیانو دې تجویز ته چې په وردګو دې سخت عملیات سرته ورسېږي داشارې پرتنځ کې وویل حکومت اوس هم د دې دول عملیاتو په برخه کې صرفه نه کوي خوله دې لارې څخه یې کامیابي نه ده ترلاسه کړې.

لدې وروسته پیمان له غونډې ووت او په ظاهرکې دوه تنه خلقیان یود بابالالا شاه محمود او دبوم کلي نعیم په غونډه کې پاته شول دوی د یولړ مسکو تیټو – وروسته دیوه لست له مخې دهغې کسانو نومونه غونډې ته واوروله چې باید وردګو ته د جرګې له پاره روان شي، غونډې پدې نومونو څه اعتراض ونه کړاو یا یې نشوکولی.

* * *

د ۲۷ روژې په ماښګردوه هلیکوپترالوتکې په ډېرلوړوالي سیمې ته ننوتې مجاهدین چې د خپلو مورچو دپاسه ناست وو پر الوتکو یې ښې ډېرې کولې وچلولې هغه الوتکو ته رسېدلي چې ډېرې شوې اوکېدای شي هغوی پرې خبر شوي هم نه وي خودوی پرې خپل زړونه تش کړل او هغه یې بې ځوابه پرې نښودې.

الوتکو له پاسه سپینې پاڼې شیندلې او چې ترڅو ځمکې ته را رسېدې نوډېرلږ پام هغه خواته ووړ ماشومانو به منډې پسې وهلې او دالوبه د هغوی دلړې شپې د ساتېرۍ ښه مشغولا وه، پاڼې ځمکې ته راورسېدلې چا به له قهر او خښم څخه ټوټه کړې- چا به بېرته اپسته واچولې او یونیم به فکر ورته یووړ خو عمومي فضا داسې وه چې مجاهدینو د رژیم د ماتې سندګانې اوپیل ته به یې د دغو پاڼو په ښودلو داسې

حکومت په نمایندګۍ سالون ته په ډېر کړس اوفر کې راننوت، دحق په جانب اوغمناکه پوز په نیولو سره یې دغو کسانو په وړاندې خبرې پیل کړې.

ده وویل: زه دیوه پښتون په توګه له وردګو سره ډېره زیاته مینه لرم دا یې هم وویل چې وردګ دحکومت له نظره ډېر شریف خلک دی په تېره بیا پر ده ډېر ګران دی.

ده په شرافت سوګند یادکړ چې هغه دردناک حالت چې د وردګو ښځو اوماشومانو ته د جګړې له امله په غرونو کې داستوګنې څخه ورپېښ شویدی په خاصه توګه د ده د زړه سوی ور دی خو په ضمن کې یې د دې خبرې یادونه هم وکړه چې حکومت هغه وسایل اوامکانات په لاس کې لري چې د وردګو ټوله سیمه وربانده په بل مخ واړوي خوزما دا حالت پدغه مېړني اوغیرتي قام نه لورېږي نوداسې یوکار باید وشي چې د دواړو خواو یعنې حکومت او وردګو حیثیتونه پکې وساتل شي:

پیمان داهم وویل: په حکومتي دستګاه کې له وردګو نه داسې کسان شته چې د وردګو په مقابل کې د سختو جګړو اوعسکري عملیاتو تجویز وړاندې کوي خوزه د یوه پښتون په توګه چې وردګ ډېر راباندې ګران دی د هغوی په مخ کې درېږم.

ده راجلب شویو کسانو ته مخ وکړ څاوه ویې ویل تاسې خپل قوم ته ورشئ ممکن هغوی له تاسو سره ښه سلوک ونکړي خو هر څه چې د رسېږکوي بیاهم ستاسو قوم دی ورشئ دلاسا یې کړئ.

دپیمان په خبروکې د ځکځ مامورینوته تر پلاله لاندې یواخطار اوګواښ هم وړاندې شو او هغه داچې داماموریني دې یاله دوی سره ودرېږي او یا دې دخپل قوم څنګ ونیسي.

په سالون یو ویرجن سکوت حکم چلاوه دناستو کسانو له څېرو د ژړو...



اندېښنو لوخړې ختلې هغوی زیاتره د پیمان خبروته نه بلکې خپل ژوند او سبا ته په فکر کې ؤ. داسې غمناکه چرپیتیا چې سری فکر کاوه په ناستو کسانو کې دمه نه چلېږي اوهسې یې ستړګې غړېږي.

اسمعیل خان چې یو وخت ډېر مقتدر والي ؤ دغه چرپیتیامات کړه اودنورو په نمایندګۍ یې خوخبرې وکړې ده هم دقام پدغه دردوونکې حالت اندېښنه څرګنده کړه او په ضمن کې یې دخوتنو وردګو خلقیانو دې تجویز ته چې په وردګو دې سخت عملیات سرته ورسېږي داشارې په ترڅ کې وویل حکومت اوس هم د دې ډول عملیاتو په برخه کې صرفه نده کړې خوله دې لارې څخه یې کامیابي نده ترلاسه کړې.

لدې وروسته پیمان له غونډې ووت او په ظاهرکې دوه تنه خلقیان یود باباللا شامحمود اوبل دبوم کلي نعیم په غونډه کې پاته شول دوی دیولړ مسکو تیتو - وروسته دیوه لست له مخې دهغې کسانو نومونه غونډې ته واورول چې باید وردګو ته دجرګې له پاره روان شي، غونډې پدې نومونو څه اعتراض ونه کړاو یا یې نشو کولی.

* * *

د ۲۷ روژې په مازیګر دوه هلیکوپتر الوتکې په ډېر لوړ والي سیمې ته ننوتې مجاهدین چې د خپلو مورچو دپاسه ناست وو پرالوتکو یې بنې ډېرې ګولۍ وچلولې هغه ګولۍ الوتکو ته رسېدې چېرې شوې اوکېدی شي هغوی پرې خبر شوي هم نه وي خودوی پرې خپل زړونه تش کړل او هغه یې بې ځوابه پرې نښودې.

الوتکوله پاسه سپینې پاڼې شیندلې اوچې ترڅو ځمکې ته رارسېدې نود تولو پام هغه خوانه وو، ماشومانو به منډې پسې وهلې اودالوبه د هغوی دلږې شیبې دساتېرۍ ښه مشغولا وه، پاڼې ځمکې ته راورسېدلې چا به له قهر اوخښم څخه ټوټه کړې - چا به بابیزه ایسته واچولې او یونیم به فکر ورته یو ورځو عمومي فضا داسې وه چې مجاهدینو د رژیم د ماتې سندګانه اوبیولته به یې د دغو پاڼو په ښودلو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګنده وله چې رژیم ورته د ننواتي لمن وغوړوله خپله ناکامي یې ومنله او د دوی د ایماني پرتم پوروړاندې سلامي شول.

پر کاغذونو چې په زرګونو یا نیمې یې په ټوله دره کې تیت شوې وې لیکل شوي وو:

دلوی خدای په نامه

«د وردګو کرانو او سپیڅلو اوسېدونکو ته:

څرګنده چې د ثور د ستر انقلاب په رڼا کې د وردګو ټول اوسېدونکي دانقلاب سره تضاد نلري. نو هغه وقایع او پېښې چې تراوسه هلته منځ ته راغلي د سوء تفاهم او د دښمنانو د تبلیغاتو ثمره ده نو ځکه خلقي دولت د وردګو ټولو اوسېدونکو ته د کمکي اختر د مبارکو ورځو په احترام پوره او شپږه عفوه اعلانوي او ستاسو قومي جرګه چې دلاندنیو اشخاصو څخه عبارت ده تاسې ته د مفاهمې او عفوې د عملي کولو د پاره درځي.

جرګې ته د دولت لخوا د عفوې د عملي کولو له پاره چې لار هواره کړي پوره صلاحیت ورکړ شوی. د جرګې غړي لاندې قومي مشران دي:

۱- محترم محمد انورخان واحدي، ۲- غلام درویش خان (ابرکل)، ۳- عبدالغني خان
۴- بسم الله علاقدار، ۵- خدایداد خان خر، ۶- میرافغان، ۷- عبدالحنان خان
مینه پال، ۸- ډګروال سید جان خان، ۹- شیراحمد خان، ۱۰- وکیل امین الله خان
۱۱- مامور جلال الدّین خان، ۱۲- مدیر محمد آصف خان، ۱۳- عید محمد خان،
۱۴- ملک شیرآقا خان، ۱۵- ملک عبدالرؤف خان، ۱۶- پخوانی والي اسمعیل خان،
۱۷- قوماندان عبدالرؤف خان، ۱۸- عبدالجلیل وجدي، ۱۹- عبدالقدیر خان،
۲۰- مدیر محمد یعقوب خان، ۲۱- رئیس محمد انورخان اکبري او څیني نور.

دافغانستان د موکراتیک جمهوري دولت لخوا»

لدې څخه هم وردګو ته دوې جرګې د توپونو او ټانکونو په بدرګه تللي



وې خو د هغوی د فعالیت سطحه او ساحه ډېره محدوده وه او تقریباً پټه او غیر رسمي بڼه یې درلوده چې د هغو جرګو کې دغه کسان شامل وو:

۱- حاجي خدایداد خان خر.
۲- ډګروال عبدالحق دشمنی په زوی مشهور.
۳- حاجي سید رسول د تنګي درې اوسېدونکی.
۴- حاجي موسی وردګ د شیخ آباد.
۵- غند مشر کریم خان د سید آباد د اولسوالۍ اوسېدونکی.
۶- ملک شیر اقا د جلګې علاقدارۍ اوسېدونکی.
۷- حاجي جمعه ګل د شش قلعې اوسېدونکی.
۸- مدیر یعقوب د دوړاخېلو اوسېدونکی.
۹- محمد کریم خان د دوړاخېلو اوسېدونکی.
۱۰- ډګروال سید جان د چک ولسوالۍ اوسېدونکی. (۱)

سیمې ته د جرګې د غړو په راتلو مجاهدینو د وې مخالفې نظر یې لرلې ځوان پاڅکی ورسره مخالف وُ چې د کمونیزم او اسلام تضاد ونه د ځلاینې ندی او داد رژیم یوه دسیسه ده خو قومي سپین ږیري چې د جرګو مرکې پر کودونو وارد کسان وو د جرګې د راتلو او مرکې پلوی وو او ویل یې چې که څه هم د اتضاد ونه د ځلاینې ندی خو د جرګې ردول هم سم ندی جرګه منو او ښایي پخپله کته یې راوغرخوو. دغه اختلاف د مجاهدینو ترمنځ د څو ورځو مباحثې او سخت جدل سبب شو دا نظر هم وړاندې کړ شو چې جرګه دې راشي خو غړي دې ونیول شي او بیا دې کابل ته د تلو اجازه نه ورکول کېږي او لدې لارې دې هم پر رژیم دیو بل فشار په توګه کار واخیستل شي.

(۱) وګ - پېرچک او دایمرداد وګې اسلامي پاڅون لیکوال محمد زبیر شفیقي ۱۰۸-۱۰۹ مخونه.

څرګندوله چې رژیم ورته د ننواتي لمن وغوړوله خپله ناکامي یې ومنله او د دوی د ایماني پرتم پر وړاندې سلامي شول.

پرکاغذونو چې په زرګونو یاني یې په ټوله دره کې تیت شوې وې لیکل شوي وُ:

دلوی خدای په نامه

«د وردګو کرانو او سپیڅلو اوسېدونکو ته:

څرنګه چې د ثور د ستر انقلاب په رڼا کې د وردګو ټول اوسېدونکي د انقلاب سره تضاد نلري. نو هغه وقایع او پېښې چې تراوسه هلته منځ ته راغلي د سوء تفاهم او د دښمنانو د تبلیغاتو ثمره ده نو څکه خلقي دولت د وردګو ټولو اوسېدونکو ته د کمکي اختر د مبارکو ورځو په احترام پوره او بشپړه عفوه اعلانوي او ستاسو قومي جرګه چې د لاندنیو اشخاصو څخه عبارت ده تاسې ته د مفاهمې او عفوې د عملي کولو د پاره درځي.

جرګې ته د دولت لخوا د عفوې د عملي کولو له پاره چې لار هواره کړي پوره صلاحیت ورکړ شوی. د جرګې غړي لاندې قومي مشران دي:

۱- محترم محمد انور خان واحدي، ۲- غلام درویش خان (ابه ګل)، ۳- عبدالغني خان ۴- بسم الله علاقدار، ۵- خدایداد خان خر، ۶- میرافغان، ۷- عبدالحنان خان مینه پال، ۸- ډګروال سید جان خان، ۹- شیراحمد خان، ۱۰- وکیل امین الله خان ۱۱- مامور جلال الدّین خان، ۱۲- مدیر محمد آصف خان، ۱۳- عید محمد خان، ۱۴- ملک شیرآقا خان، ۱۵- ملک عبدالرؤف خان، ۱۶- پخواني والي اسمعیل خان، ۱۷- قوماندان عبدالرؤف خان، ۱۸- عبدالجلیل وجدي، ۱۹- عبدالقدیر خان، ۲۰- مدیر محمد یعقوب خان، ۲۱- رئیس محمد انور خان اکبري او څیني نور.

دافغانستان د موکراتیک جمهوري دولت لخوا.»

لدې ځکې هم وردګو ته د وې جرګې د توپونو او ټانکونو په بدرګه تللي



وې خو د هغوی د فعالیت سطحه او ساحه ډېره محدوده وه او تقریباً پټه او غیر رسمي بڼه یې درلوده چې د هغو جرګو کې دغه کسان شامل وو:

۱- حاجي خدایداد خان خر.

۲- ډګروال عبدالحق د شنې په زوی مشهور.

۳- حاجي سید رسول د تنګي درې اوسېدونکی.

٤- حاجي موسی وردګ د شیخ آباد.

٥- غند مشر کریم خان د سیدآباد د اولسوالۍ اوسېدونکی.

٦- ملک شېر اقا د جلګې علاقدارۍ اوسېدونکی.

٧- حاجي جمعه ګل د شش قلعې اوسېدونکی.

٨- مدیر یعقوب د دوراخیلو اوسېدونکی.

٩- محمد کریم خان د دوراخیلو اوسېدونکی.

١٠- ډګروال سید جان د چک ولسوالۍ اوسېدونکی. (١)

سره له دې چې دغو جرګو ته د جرګې دغړو په راتلو مجاهدینو د وې مخالفې نظر یې لرلې څوان پا تکی ورسره مخالف وُ چې د کمونیزم او اسلام تضاد ونه د ځلاینې ندی او دا د رژیم یوه دسیسه ده خو قومي سپین ږیري چې د جرګو مرکو پر کودونو وارد کسان وو د جرګې د راتلو او مرکې پلوی وو او ویل یې چې که څه هم د اتضاد ونه د ځلاینې ندی خو د جرګې ردول هم سم ندی جرګه منو او بیا یې خپله کته یې راوڅرخوو. دغه اختلاف د مجاهدینو ترمنځ د څو ورځني مباحثې او سخت جدل سبب شو دا نظر هم وړاندې کړ شو چې جرګه دې راشي خو غړي دې ونیول شي او بیا دې کابل ته د تلو اجازه نه ورکول کېږي او لدې لارې دې هم پر رژیم دیوبل فشار په توګه کار واخیستل شي.

---

(١) وګ- پرچک او دایمرداد وګي اسلامي پاڅون لیکوال محمد زبیر شفیقي ١٠٨-١٠٩ مخونه.

دغه مباحثو او جدلونو نه یوازې د مجاهدینو د مشرانو ترمنځ بلکې د کړو مجاهدینو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د مباحثې جدي او خبښمېدلې مجلسونه تاوده کړل.

بالاخره د قومي مشرانو پرېکړه ومنل شوه او د جرګې غړو ته د راتلو اجازه ورکړ شوه د چې د اسلامي انقلابي شورا غړو د علي خان په کلي کې د جرګې د غړو هرکلی وکړ که څه هم دا هرکلی د زړه د پاسه هرکلی و. خو په کومه کې د جرګې غړي په عنعنوي توګه برکېنول شول او د شورا غړي او مجاهدینو د دروازو ته نژدې ځایونه ونیول. خو بیا هم د جرګې له غړو د ډار او وېرې خپسې منګولې نه وې لېرې کړې او س هم له دوی سره دا اندېښنه وه چې تو م به څه ورسره کوي او له دوی څخه به د ړنیم د ناکړدو څه وړ انتقام او غچ اخلي، دغه ډار او اندېښنه د دوی له ناستې، حرکاتو، خبرو او کتلو څخه ډېره ښه څرګندېده - دوی ته ځانونه له ټولې مشهورتیا، غروري او مشرتوب سره د ېر وړوکی ښکارېدل، د مجاهدینو د ایماني پرتم، روحي ډاډ او بې سیاله مقاومت له ارخه دوی ځانونه ډېر پیکه احساسول په تېره دا چې سیمې ته د جرګې د غړو په راتلو مجاهدینو لس مانورې ترسره کړې دوی د لارې په اوږدو کې په ډېر صلابت او قوت سره ځایونه نیولي و او د لارو د واړو غاړو ته ټوپک پر لاس او په کارتوسو پټ ولاړو چې دلس وړانګو به د کارتوسو سره د ټکر پر وخت یو ډول طلایي وړانګې ښندلې او ځلګونه به یې کول - دوی په یوه ځای کې د بخاري نل په ډېرو او بوټو کې پټ کړی او له پاسه یې ترپال پرې غوړولی و داسې ښکارېده لکه او بوس توپ؛ چې هر چا یې په لیدو دا خیال کاوه چې یوه دا خوږېر درو ند توپ دی - دوی د الله اکبر په پرله پسې شعارونو او غوږونو د جرګې د غړو هرکلی کاوه او هغوی ته یې د خپل تصمیم او همت ننداره ښوده چې ځینو ځینو به یې له کواښه د ګډ عمل هم ترسره کړې.



د اسلامي انقلابي شورا رئیس عبدالکبیرخان د جرګې له غړو ته خبرې پیل کړې او ولګه چې د دوی وېره او اضطراب یې درک کړی وی په مینه، سره سینه او په له موسکا د که خوله یې د جوړ نا جوړه احوال وروسته خپلې پوښتنې پدې ډول پیل کړې:

د الوټکو نه په اچول شوې کاغذونو کې ټول معرفي شوي کسان نشته د مثال په توګه د محمد انور واحدي ځای تش دی او ملک عبدالرؤف خان هم له تاسې سره نه لیدل کېږي موږ نه پوهېږو چې هغوی ولې ندي راغلي بند یا شوي خو به نه وي؟

دغه پوښتنې هغوی ته هم تلولی کړل او ولګه چې له یوې سختې او خطرناکې پوښتنې سره مخامخ شوي وي یو بل ته په بېړه او وارخطایی وکتل او ویې ویل:

واحدي صاحب ته د عدلیې وزارت د معین په توګه ځینې ضروري کارونه پیدا شول او د هغه وزارت په غوښتنه له جرګې نه وویستل شو او په ځای یې مستوفی سلطان محمد وټاکل شو. خو ملک عبدالرؤف په اړه هغوی هېڅ و نه شو ویلای او چوپ پاته شول. د شورا مشر هم د دوی د تلولی حالت په احساس نو څه و نه ویل هدارنګه د خانګل ماما موجودیت ته پدې جرګه کې چې نوم یې په لست کې نه و، ډېر و د تعجب په سترګه کتل خانګل د ناویو د وړلو راوړلو له پاره آس ساتلی و او په ودونو کې به د ده آس په کرایه نیول کېده او هم پر هېڅ توګه د داسې غلسونو او غونډو او خانګل په ځپله موضوع روښانه کړه ویې ویل:

چې له مدیر محمد یعقوب سره د سرګي په غاړه روان و چې د جرګې موټر ودرېده او دی یې هم ورسره موټر ته وخېژاوه نو په هېڅ هم ندی خبر بله پوښتنه دا وه چې د جرګې غړي ځانونه قومي بولي او که د حکومت نماینده ګان - دغه پوښتنه بیا هم د هغوی پر مخ و یو بل د روند ګوزار و چې سره ویې لړزول او بیا یو بل ته په کتو شول - د جرګې غړي په خپلو منځو کې هم یو پر بل نه وو ډاډه او دا اندېښنه ورسره وه چې د دوی په منځ کې به

دغه مباحثو او جدلونو نه یوازې د مجاهدینو د مشرانو ترمنځ بلکې د کړو
مجاهدینو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د مباحثې جدي او خښمېدلي
مجلسونه تاوده کړل.

بالاخره د قومي مشرانو پرېکړه ومنل شوه او د جرګې غړي ته د
راتلو اجازه ورکړ شوه د چې د اسلامي انقلابي شورا غړو د علي خان په کلي
کې د جرګې د غړو هرکلي وکړ که څه هم دا هرکلی د زړه د پاسه هرکلی و.
خو په کوټه کې د جرګې غړي په عنعنوي توګه بر کېنول شول او د شورا غړي
او مجاهدینو د دروازو ته نژدې ځایونه ونیول. خو بیا هم د جرګې له غړو د زړه او
وېرې خپسې منګولې نه وې لیرې کړې او س هم له دوی سره دا انديښنه وه چې
توم به څه ورسره وکړي او له دوی څخه به د رژیم د ناکړدو څه ور انتقام او
غچ اخلي، دغه زړه او انديښنه د دوی له ناستې، حرکاتو، خبرو او کتلو څخه ډېره
ښه څرګندېده - دوی ته ځانونه له توپلې مشهورتیا، غوړی او مشرتوب سره
د ډېر وړوکي ښکارېدل. د مجاهدینو د ایماني پرتم، روحي واو او رېې سیاله مقاومت
له ارخه دوی ځانونه ډېر پیکه احساسول په تېره دا چې سیمې ته د جرګې د غړو
په راتلو مجاهدینو یولس ماموری ترسره کړي دوی د لارې په اوږدو کې
په ډېر صلابت او قوت سره ځایونه نیولي وُ او د لارو د واړو غاړو ته توپک پدلاس
او په کارتوسو پټ ولاړ وُ چې د لمر وړانګو به د کارتوسو سره د تیکر پرقت
یو ډول طلايي وړانګې ښندلې او ځلکونه به یې کول - دوی به یوه ځای کې د
بخاري نل په ډېرو او بوټو کې پټ کړی او له پاسه یې ترپال پرې غوړولی وُ داسې
ښکارېده لکه اوبوس توپ؛ چې هرڅایې په لیدو دا خیال کاوه چې یوه د اخوړېږ
دروند توپ دی - دوی د الله اکبر په پرله پسې شعارونو او غوږونو د جرګې د
غړو هرکلی کاوه او هغوی ته یې د خپل تصمیم او همت ننداره ښودله چې څېنو
څېنو به یې له ګواښنه ډکه عمل هم ترسره کړي.



د اسلامي انقلابي شورا رئیس عبدالکبیرخان د جرګې له غړو سره
خبرې پیل کړې او لکه چې د دوی وېره او اضطراب یې درک کړی
وی په مینه، سره سینه او په له موسکا ډکه خوله یې د جوړ نا جوړ له
احوال ورو وروسته خپلې پوښتنې پدې ډول پیل کړې:
د الوتکو نه په اچول شویو کاغذونو کې تړول معرفي شوي کسان
نشته د مثال په توګه د محمد انور واحدي ځای تش دی او ملک عبدالرؤف خان
هم له تاسې سره نه لیدل کیږي مور نه پوهیږو چې هغوی ولې ندي راغلي بد یا شو خو به نه وي؟
دغه پوښتنې هغوی نور هم تلولي کړل او لکه چې له یوې سختې او خطرناکې پوښتنې
سره مخامخ شوي وي یو بل ته په بېړه او وارخطایي وکتل او ويې ويل:
واحدي صاحب ته د عدلیې وزارت د معین په توګه ځینې
ضروري کارونه پیدا شول او د هغه وزارت په غوښتنه له جرګې نه وویستل
شو او په ځای یې مستوفي سلطان محمد وټاکل شو. خو د ملک عبدالرؤف
په اړه هغوی هیڅ ونه شو ویلای او چوپ پاته شول. د شورا مشر هم د دوی
د تلولې حالت په احساس نور څه ونه ویل هدا رنګه د خانګل ماما موجودیت
ته پدې جرګه کې چې نوم یې په لست کې نه وُ د ډېرو د تعجب په سترګه
کتل. خانګل د ناوېو د وړلو راوړلو له پاره آس ساتلی وُ او په ودونو کې به د ده
آس ډېر کرایه نیول کېده او هم ډېر هیڅ توګه د داسې غلسونو خو د خانګل پخپله موضوع رونیا کړه او ويې ویل:
چې له مدیر محمد یعقوب سره د سړک په غاړه روان وُ چې د جرګې موټر
ودرېده او دی یې هم ورسره موټر ته وخېژاوه نور په هیڅ هم ندی خبر.
بله پوښتنه دا وه چې د جرګې غړي ځانونه قومي بولي او که د حکومت
نمایندګان. دغه پوښتنه بیا هم د هغوی په مغزو یو بل د روند ګوزار وُ چې
سره ويې لږ هول او بیا یو بل ته په کتو شول - د جرګې غړي په خپلو مخو کې
هم یو پر بل نه وو او وه او دا انديښنه ورسره وه چې د دوی په منځ کې به

حتیٰ د حکومت جاسوس ځای لري نو دغه پوښتنې په ځواب د ېر سره
وخوځېدل او خوځېدل د پرې خبرې یې وژوولی خو ښاغلی وجدي دا
میړانه وکړه چې د جرګې غړي یې قومي وبلل. وروسته د شورا رئیس او نورو
مشرانو هر یوه بېځېله وار خبرې وکړې او یې ویل چې اوبه خلقیانو د نژادي توپیر
پرضد خبرې کولې خو په عمل کې مونږ ولیدل چې دوی هزاره د پښتنو
او پښتانه د هزاره ګانو په مقابل کې لمسول. خلقیانو به ویل او لا ګټیا دي وايي
چې انقلاب پرمخ تلونکی هدف ونه لري خو په عمل کې دوی غوښتل چې مونږ
دوې پېړۍ په شا بوزي او په افغانستان کې د کورنیو جګړو او قبیلوي
اختلافونو زمانه بیا په مونږ ووینې او بیا همدوی لګیا دي او د مرتجعینو ټاپې
په مونږ لګوي او س نو تاسې وواياست چې مونږ مرتجعین یو که دوی.

د حکومت په ابلاغیه کې مونږ ته په اصطلاح عفوه اعلان شوی. عفوه
خو هغو کسانو ته کېږي چې مقصر وي او ګناه یې کړې وي مونږ څه
ګناه کړې وه چې زمونږ په سیمه سور اور بل کړی شو.

دشورا رئیس جرګې ته مخ واړاوه او څرګنده یې کړه تاسې زمونږ مشران
یاست تاسې بېځېله په ټول قوم کې وګرځئ او بېځېلو سترګو ووینئ چې د
خومره بې دفاع او مظلومانو کورونه او کروندې سوځول شوي. زمونږ کورونو
چور شول. بیوا ځې زمونږ ماشومان نه بلکې زمونږ څاروي هم د الوتکو په لیدو سره
احساسوي چې د محشر ورځ وربادې رارتلونکې ده. خو مونږ به دغه دول
ستمګرو عناصرو ته چې ځانونو ته خلقیان وايي او په مونږ بوڼه او روي اودتوپ
ټانک او طیارې له لارې مونږ ته خپل نړۍ بینې د اسلامي جذبې او قومي زوړله
مخې سرېټوب او انسانیت وروبنیو.

مونږ فیصله کړې چې د حق او حقیقت په لار کې یو تن هم تروندی نه پاتې
کېږو نو چې مونږ د اسې فیصله کړې وی بیا به ولې وسله په ځمکه ږدو بیا به نو.



زمونږ له پاره سوله او د سولې جرګې څه ارزښت ولري؟ سره لدې هم مونږ
مسلمان او پښتانه یو د ملامتۍ بار په اوږو نشو ګرځولی که چېرې د سولې جرګه
زمونږ ملامتي را برسېره کولی شي راودې نسیې مونږ به پوره حوصله د هغو
خبرواترو او وړ په د و ته چمتو یو..... دا وخت د جرګې د غړو خولې په لاړو لمدې
شوې وې او د زړونو دردا یې لرڅه ناسته وه وې ویل مونږ بېځپلو سترګو
ولیدل چې حکومت ستاسې کورونه سوځولي او تاسې ته یې زیات تاوان
دراړولی دی خو تاسې هم صرفه نده کړې سرکونه موخراب کړیدی او لکه چې
حکومت ادعا کوي ښوونځي او نور اجتماعي مرکزونه موسوځولي دي.

د شورا رئیس وویل مونږ منکر نه یو د چګ هوټل خو ولسوال خپله
عسکري چوڼۍ ګرځولې وه چې د جنګ په جریان کې ویران شو او بیوا ځې یو
ښوونځي چې خوځله حکومت زمونږ پرضد د یوې اډې په توګه ترې کار
اخیست له مینځه وړل شوی. بله دا چې دا ټول مونږ جوړ کړي د قومي
اشرونو له لارې موجوړ کړي او بیا به یې هم مونږ جوړوو، نو مونږ
هیڅ اجتماعي مرکز ته زیان ندی رسولی. د بریښنا فابریکه لکه چې تاسې یې
ګورئ فعاله ده او سیمې ته بریښنا ورکوي خو دا په ډاګه وایو چې پرکابل مو بریښنا
قطع کړې. داوبو بند او نور ټول تأسیسات فعال دي.

د یو لړ آزادو مباحثو په نتیجه کې مجاهدینو وغوښتل چې جرګه
خپل نظر څرګند کاندي د جرګې له خوا وویل شول چې قوم ملامته
ندی مونږ هیله لرو چې د قوم او حکومت ترمنځ سرې اوبه تویې کړو
تاسې مونږ ته خپلې غوښتنې او شرطونه څرګند کړي کوم چې
زمونږ له صلاحیته پوره دی هدلته به یې فیصله کړو او په نورو به له
حکومت سره وغږیږو. د شورا رئیس له جرګې اجازه وغوښته چې د دغه
مسئلې په اړه د دوی په غیاب کې شورا یوه غونډه وکړي. د دغې ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتیٰ د حکومت جاسوس ځای لري نو د غه پوښتنې په ځواب د هر سړه
وخوځېدل راو خوځېدل د هرې خبرې يې وڅوولی خو ښاغلي وجدي دا
مېړانه وکړه چې د جرګې غړي يې قومي وبلل. وروسته د شورا رئيس او نورو
مشرانو هريوه پخپل وار خبرې وکړې ويې ويل چې اوبه خلقيانو د نړا دي توپير
پرضد خبرې کولې خو په عمل کې موږ ولېدل چې دوی هزاره د پښتنو
او پښتانه د هزاره ګانو په مقابل کې لمسول. خلقيانو به ويل اولا ګليا دی وايي
چې انقلاب پرمخ تلونکی هدف نه لري خو په عمل کې دوی غوښتل چې موږ
دوې پېړۍ په شا بوزي او په افغانستان کې د کورنيو جګړو او قبيلوي
اختلافونو زمانه بيا په موږ ووينې او بيا همدوی ګليا دی او د مرتجعينو تاپې
په موږ لګوی اوس نو تاسې وواياست چې موږ مرتجعين يو که دوی.
د حکومت په ابلاغيه کې موږ ته په اصطلاح عفوه اعلان شوی. عفوه
خو هغو کسانو ته کېږي چې مقصر وي او ګناه يې کړې وي موږ څه
ګناه کړې وه چې زموږ په سيمه سور اور بل کړی شو.
د شورا رئيس جرګې ته مخ واړاوه او څرګنده يې کړه تاسې زموږ مشران
ياست تاسې پخپله په ټول قوم کې وګرځئ او پخپلو سترګو ووينئ چې د
شوروي بې دفاع او مظلومانو کورونه او کروندې سوځول شوي. زموږ کورنۍ
چور شول. بيا ځې زموږ ماشومان نه بلکې زموږ ښځې روی هم د الوتکو په ليدو سره
احساسوي چې د محشر ورځ ورباندې راتلونکې ده. خو موږ به د غه ړول
ستمګرو عناصرو ته چې ځانونو ته خلقيان وايي او په موږ بمونه اوروي او د توپ
ټانک او طيارې له لاسه موږ ته خپل زوړ بنيې د اسلامي جذبې او قومي زوړله
مخې سرپټوب او انسانيت وروښيو.
موږ فيصله کړې چې د حق او حقيقت په لار کې يو تن هم ژوندی نه پاتې
کېږو نو چې موږ داسې فيصله کړې وي بيا به ولې وسله په ځمکه بږدو بيا به نو



زموږ له پاره سوله او د سولې جرګې څه ارزښت ولري؟ سره له دې هم موږ
مسلمان او پښتانه يو د ملامتي بار په اوږو نشو ګرځولی که چېرې د سولې جرګه
زموږ ملامتي را برسېره کولی شي راودې نسيي موږ به پوره حوصله د هغو
خبرو اترو اورېدو ته چمتو يو.... دا وخت د جرګې د غړو خولې په لاړو لمدې
شوې وې او د زړونو درزا يې لرڅه ناسته وه ويې ويل موږ پخپلو سترګو
وليدل چې حکومت ستاسې کورونه سوځولي او تاسې ته يې زيات تاوان
داړولی دی خو تاسې هم صرف نده کړې سړکونه مو خراب کړيدي او لکه چې
حکومت ادعا کوي ښوونځي او نور اجتماعي مرکزونه مو سوځولي دي.
د شورا رئيس وويل موږ منکر نه يو د جګړې هو پټل خو ولسوال خپله
عسکری چوڼۍ ګرځولې وه چې د جنګ په جريان کې وران شو او بيا ځې يو
ښوونځی چې څو ځله حکومت زموږ پرضد د يوې اډې په توګه ترې کار
اخيست له منځه وړل شوی. بله دا چې دا ټول موږ جوړ کړي د قومي
اشرونو له لارې مو جوړ کړي او بيا به يې هم موږ جوړوو، نو موږ
هيڅ اجتماعي مرکز ته زيان ندی رسولی. د برېښنا فابريکه لکه چې تاسې يې
ګورئ فعاله ده او سيمې ته برېښنا ورکوي خو دا په ډاګه وايو چې پر کابل مو برېښنا
قطع کړې. داوبو بند او نور ټول تأسيسات فعال دي.
د يو لړ آزادو مباحثو په نتيجه کې مجاهدينو وغوښتل چې جرګه
خپل نظر څرګند کاندي د جرګې له خوا وويل شول چې قوم ملامته
ندی موږ هيله لرو چې د قوم او حکومت ترمنځ سړې اوبه توی کړو
تاسې موږ ته خپلې غوښتنې او شرطونه څرګند کړئ کوم چې
زموږ له صلاحيته پوره دی هم دلته به يې فيصله کړو او په نورو به له
حکومت سره وغږيږو. د شورا رئيس له جرګې اجازه وغوښته چې د دغه
مسئلې په اړه د دوی په غياب کې شورا يوه غونډه وکړي. د دغې ځانګړې

غونډې حق د جرګې غړو ته هم حاصل وُ چې بېله غونډه وکړي. په بله -
کوټه کې کابو يو ساعت خبرې وشوې او لومړی شرط داوړاندې
شو چې زمونږ بنديان راخوشې کړي که چېرې يې زمونږ بنديان راخوشې
کړل بيا به نورو خبرو ته هم سر کېښېږو.

شوراداهم هيله لرله چې ټوله جرګه به کابل ته نه ځي څينې به يې
له قوم سره پاته کېږي خو د جرګې غړي ويرېدل چې کنې مجاهدين يې د
برمته کولو خيال لري د همدې ويرې له امله ټولو غړو ته د تلو اجازه ورکړه
شوه.

جرګه کابل ته ورسېده د کورنيو چارو په وزارت کې د پوليسو قوماندان
علي شاه پيمان چې جرګه هم د ده د ابتکار له مخې جوړه شوې وه د هغوی
هرکلی وکړ. هغه په تعجب کې وُ چې د جرګې غړي روغ جوړ د ده مخې ته
ناست دي او يوه ته هم کوم زيان نه دی رسېدلی. ده په تلوسه لرله چې د
جرګې له جريان څخه خبر شي همداوُ چې اسماعيل خان مايار د جرګې په
نمايندګۍ د جرګې د فعاليت جريان په مفصله توګه وړاندې کړ چې علي شاه
پيمان يې مهم ټکي ياد داشت کول. اسمعيل خان ډېر دلايل لرل چې
قوم ملامته ندی بلکې لدې حالت سره ولسوالانو او د خلقي حکومت نورو
مامورينو د خلقي ګوند غړيو او د انقلاب د دفاع د کمېټو غړيو ځامخ کړيدی.
علي شاه پيمان وويل: ما غوښتل جرګه له امين صاحب سره وګوري
خو داسې ښکاري چې امين صاحب له وردګو خپه دی....
مايار په احساساتي بڼه د پيمان خبرې ورپرې کړې او په ماته کوټه
پښتو يې وويل:
... فرق نه کوي امين خپه کېږي کې تړه کې، کې د هر څه قوم مهم
دی وطن مهم دی مونږ غواړو خدای پدې قوم ورحم وکړي کې حکومت مهرباني



وکړي...
پيمان موسکی شو خپلې خبرې يې ترميم کړې ويې ويل وبخښئ
ما لکه چې خپل مطلب سم ونشو ويلی امين صاحب له وردګو نه خپه
ندی وردګ ډېر ورباندې ګران دي ناز ورباندې لري.
بيا يې وويل ريښتيا چې قوم ملامت ندی ماته دوه ولسوال شوی
ولسوال وروته راغلل او راته يې وويل: چې زمونږ ورور وردګو شهيد
کړيدی. خو ما ورته وويل شهيد نه بلکې مردار شويدی. پيمان وويل
ماڅکه خپل ولسوال مردار شوی وګاڼه چې هغه د وردګو پر پښتو او غيرت
باندې ملنډې وهلې دي زه هم پښتون يم که چېرې زما په ولس کې داکار
شوی وای او زما خلک په زور په موټرونکې د جګړې له پاره استول شوي وای
ما به هم د وردګو په څېر اقدام کاوه.
پيمان د خپلو مخصوصو اکتونو په ملتيا کله د نرمۍ او د پستۍ غاړې
او کله بيا ګواښونکي او شخصي خبرې کولې پدې کې د تيلفون زنګ راغی د هغه
له خبرو داسې څرګنده شوه چې مقابل لوری يې د مرکزي قواوو قوماندانی ده
چې قوماندان يې د وردګو د تنګي اوسېدونکی محمد دوست دی.
پيمان په تيلفون کې په نسبتاً جدي بڼه مقابل لوري ته وويل نه نه،
ګوره د سولې جرګه دا ده زما سره ناسته ده، دوی له قوم سره مفاهمه کړې
د سولې اميد نور هم زيات شوی تاسې عمليات مه کوئ د وردګو مسئله
ماته پرېږدئ زه د وردګو ضامن يم وردګ ښه خلک دي.
دا معلومه نشوه چې د پيمان دا تيلفوني مرکه مصنوعي وه که حقيقي.
پيمان بيا ورو ځې اواوږې يو ځای وغورځولې غاړې يې تازه کړ چپه
سترګه يې لږ څوګه کړه د خولې ښی وښکې يې يوې خواته کوږ کړ ويې ويل
د هغه اعتماد له مخې چې زه يې د وردګو د هېوادپالنې پر روحيه لرم که چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندې حق د جرګې غړو ته هم حاصل وُ چې بيله غونډه وکړي. په دې کوټه کې کابو يو ساعت خبرې وشوې او لومړی شرط دا وړاندې شو چې زموږ بنديان راخوشي کړي که چېرې يې زموږ بنديان راخوشي کړل بيا به نورو خبرو ته هم سر کېښنو.

شوراداهم هيله لرله چې نوله جرګه به کابل ته نه ځي ځينې به يې له قوم سره يا ته کېږي خو د جرګې غړي و يې پدل چې کنې مجاهدين يې د برمته کولو خيال لري د همدې ويرې له امله نړلو غړو ته د تلو اجازه ورکړه شوه.

جرګه کابل ته ورسېده د کورنيو چارو په وزارت کې د پوليسو قوماندان علي شاه پيمان چې جرګه هم د ده د ابتکار له مخې جوړه شوې وه د هغوی هر کلی وکړ. هغه په تعجب کې وُ چې د جرګې غړي روغ جوړ د ده مخې ته ناست دي او يوه ته هم کوم زيان ندی رسېدلی. د ده پوره تلوسه لرله چې د جرګې له جريان څخه خبر شي همدا وُ چې اسماعيل خان مايار د جرګې په نمايندګۍ د جرګې د فعاليت جريان په مفصله توګه وړاندې کړ چې علي شاه پيمان يې مهم ټکي ياد داشت کړل اسمعيل خان ډېر دلايل لرل چې قوم ملامته ندی بلکې لدې حالت سره ولسوالانو او د خلقي حکومت نورو مامورينو د خلقي کوند غړيو او د انقلاب د دفاع د کمېټو غړيو ځامخ کړيدی.

علي شاه پيمان وويل: ماغوښتل جرګه له امين صاحب سره وکوري خوداسې ښکاري چې امين صاحب له وردګو خپه دی....

مايار په احساساتي بڼه د پيمان خبرې ورپرې کړې او په ماته کوره پښتو يې وويل:

... فرق نه کوي امين خپه کېږي کې تر ه کې، کې د هر څه قوم مهم دی وطن مهم دی موږ غواړو خدای پدې قوم ورحېږي کې حکومت مهرباني



وکړي...

پيمان موسکی شو خپلې خبرې يې ترميم کړې ويې ويل وبخښئ ما لکه چې خپل مطلب سم ونشو ويلی امين صاحب له وردګو نه خپه ندی وردګ ډېر ورباندې ګران دی نازورباندې لري.

بيا يې وويل ربښتيا چې قوم ملامت ندی ماته دوه تنه شوی ولسوال وروونه راغلل او راته يې وويل: چې زموږ ورور وردګو شهيد کړيدی. خوما ورته وويل شهيد نه بلکې مردار شويدی. پيمان وويل ما ځکه خپل ولسوال مردار شوی وګاڼه چې هغه د وردګو پر پښتو او غيرت باندې ملنډې وهلې دي زه هم پښتون يم که چېرې زما په ولس کې داکار شوی وای او زما خلک په زور په موټرونو کې د جګړې له پاره استول شوي وای ما به هم د وردګو په څېر اقدام کاوه.

پيمان د خپلو مخصوصو اکټونو په ملتيا کله د نرمې او د پستې غاړې او کله بيا ګوا ښونکې او شخصي خبرې کولې پدې کې د تيلفون زنګ راغی د هغه له خبرو داسې څرګنده شوه چې مقابل لوری يې د مرکزي قواوو قوماندانې ده چې قوماندان يې د وردګو د تنګي اوسېدونکی محمد دوست دی.

پيمان په تيلفون کې په نسبتاً جدي بڼه مقابل لوري ته وويل نه نه کوره د سولې جرګه دا ده زما سره ناسته ده، دوی له قوم سره مفاهمه کړې د سولې اميد نور هم زيات شوی تاسې عمليات مه کوئ د وردګو مسئله ماته پرېږدئ زه د وردګو ضامن يم وردګ ښه خلګ دي.

دا معلومه نشوه چې د پيمان دا تيلفوني مرکه مصنوعي وه که حقيقي.

پيمان بيا وروځي او اوږې يې ځای وغورځولې غاړې يې تازه کړې چې سترګه يې لږ چوغه کړه د خولې ښې ونبکې يې بوي خواته کوږ کړ ويې ويل د هغه اعتماد له مخې چې زه يې د وردګو د هېوادپالنې پر روحيه لرم که چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اختیار کې وای ما به وردګو ته ویلي وای چې ځانته جلا جمهوریت جوړ کړي خو زما له واکه وتلې خبره ده خو هغه څه چې زما له واکه پوره دي زه وردګو ته د هغې لوز ورکوم چې د بندیانو په خوشې کولو کې به ورسره مرسته وکړم کوم بندیان چې له ما سره دي د هغوی په باب خو هېڅ خبره نشته .

خو له وردګو نه زما غوښتنه دا ده چې خپل ښوونځي دې پرانیزي خپل سړکونه دې جوړ کړي ولسوالي دې پخپله فعاله کړي هرڅوک چې د دوی خوښ وي هغه دې ولسوال وټاکي او ولسوال به د قوم مشرانو لکه والي اسمعیل خان او ابکل ته مسئولیت ولري - ترڅو چې پر حکومت د وردګو اعتماد نه وي راغلی ترهغو دې خپل اخیستل شوي ټوپک حکومت ته نه تحویلوي او غوښتنه یې وکړه چې جرګه یو ځل بیا قوم ته ورشي . او دی به ترهغې د وردګو د بندیانو لستونه او نور کار او بار برابر کړي .

پدې دول جرګه بیا وردګو ته لاړه . خو دا ځل جرګې هېڅ کومه نوې خبره له ځان سره نه وه وړې مجاهدینو یو ځل بیا هغوی ته خپله پخوانۍ خبره تکرار کړه چې لومړی دې زموږ بندیان خوشې کړي شي بیا به موږ خپلې نورې غوښتنې وړاندې کړو .

جرګه چې له وردګو بېرته ستنه شوه بیا یې طبق معمول علي شاه پیمان له ټول جریان څخه خبر کړ هغه ظاهراً د لستونو د برابرولو خبره بیا تکرار کړه پدې دول چې پیمان به د کورنیو چارو د وزارت لستونه برابروي او علي جان به کوښښ کوي چې د اکسا د دوارو نظامي او ملکي برخو څخه د بندیو شویو وردګو لستونه برابر کړي .

جرګې مجاهدینو ته د جریاناتو په اړه یو لیک واستاوه او له دوی څخه یې غوښتنه وکړه چې دوی هم د بندیانو لست برابر او جرګې ته یې واستوي . د دوی د لیک په رسېدو مجاهدینو دا دول ځوابیه لیک ور واستاوه ,



د سولې د جرګې محترمو غړو !

له یوې خوا ستاسې ترنظر لاندې د سولې خبرې روانې دي او له بلې خوا د کابل او د ګران هېواد په بېلو بېلو ځایونو کې د وردګو ګرفتارۍ روانې دي دغه کار موږ ته وښوده چې حکومت د چل او دسیسې فکر لري .

تاسې ته معلومه ده چې د وردګو زیاتره خلک د مامور، منصبدار، ښوونکي، کارګر، سوداګر او نورو په بڼه د هېواد په بېلو بېلو برخو کې ژوند کوي او له بلې خوا د وردګو خلک په یوه پراخه سیمه کې استوګنه لري چې هغوی ته په اوسنیو شرایطو کې زموږ لاسونه نشي رسېدی نو د ټولو وردګو د بندیانو د لست جوړول زموږ له پاره امکان نه وتلې خبره ده - که چیرې حکومت په ریښتیا سره پخپله اعلامیه کې صادق وي او ښه نیت ولري نو بیا به زموږ شرایط چې د بندیانو - خوشې کول او په پیشنهاد شوي چوکاټ کې د خبرو اترو له جریان څخه عبارت دي سخت کارندي - د وردګو د بندیانو شمېر حکومت ته پوره څرګند دی نو حاجت نشته چې خبرې اوږدې شي او تاسې هم تګ او راتګ وکړئ موږ بالخره نه غواړو یو ځلې دوهم ځلې حکومت پخپله وعده وفا وکړي .

د چک د سپین بریو له خوا

١٤ / ٦ / ١٣٥٨

لدې سره د جرګې غړو د ده بوریو په جومات کې خپله غونډه رابلله او څه نوي کسانو هم په غونډه کې برخه واخیسته .

مایار د غونډې غړو ته ټول جریان تکرار کړ . دا ونځي د موسیٰ خېلو او سپدونکي د اکسا غړي عمر وردګ چې د پر شیګ زلمي او د نوی مود شلث پټلون یې اغوستی او بیټلي طلایي وښتانو یې د یوې پېغلې له -

ړما په اختیار کې وای ما به ورډکو ته ویلي وای چې ځانته جلا جمهوریت جوړ کړي خو زما له واکه وتلې خبره ده خو هغه څه چې زما له واکه پوره دی زه وردکو ته د هغې لوز ورکوم چې د بندیانو په خوشې کولو کې به وروسره مرسته وکړم کوم بندیان چې له ما سره دي د هغوی په باب خو هیڅ خبره نشته.

خوله وردکو نه زما غوښتنه داده چې خپل سپینږیري دې پرانیزي خپل سرکونه دې جوړ کړي ولسوالي دې پخپله فعاله کړي هر څوک چې د دوی خوښ وي هغه دې ولسوال وټاکي او ولسوال به د قوم مشرانو لکه والي اسمعیل خان او ابکل ته مسئولیت ولري - تر څو چې پر حکومت د وردکو اعتماد نه وي راغلی تر هغو دې خپل اخیستل شوي ټوپک حکومت ته نه تحویلوي او غوښتنه یې وکړه چې جرګه یو ځل بیا قوم ته ورشي. او دی به تر هغې دوره ګود بندیانو لستونه او نور کار او بار برابر کړي.

پدې ډول جرګه بیا وردکو ته لاړه. خو دا ځل جرګې هیڅ کومه نوې خبره له ځان سره نه وه وړې مجاهدینو یو ځل بیا هغوی ته خپله پخوانی خبره تکرار کړه چې لومړی دې ژمنې بندیان خوشې کړي شي بیا به مونږ خپلې نورې غوښتنې وړاندې کړو.

جرګه چې له وردکو بیرته ستنه شوه بیا یې طبق معمول علي شاه پیمان له ټول جریان څخه خبر کړ هغه ظاهراً د لستونو د برابرولو خبره بیا تکرار کړه پدې ډول چې پیمان به د کورنیو چارو د وزارت لستونه برابروي او علي خان به کوښښ کوي چې دا کسا د دوارو نظامي او ملکي برخو څخه د بندي شویو وردکو لستونه برابر کړي.

